## محسن

### د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۱۱۳

# محسن تفسير

## له قرآنه يو څرک

Ketabton.com

## ۱۱۳ ـ د «فلق» سورة

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فلق سورة تشریح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

# سورةالفلق

## د فلق سورة (۱۱۳)

**سریزه:** د «فلق» سورت مکي دی چې (۵) آیتونه یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۳) په نزول کې (۲۰) سورة دی د «الفیل» له سورة څخه وروسته نازل شوی دی. ددې سورة نوم الفلق [چاودېدل، خیري کېدل، ټوکېدل، برسېره کېدل، پنځېدل، لمرخرک] ، د هغه له لومړي آیة څخه اخیستل شوی دی.

د دې سورت د نزول د زماني او ځای په اړه هم لکه څنګه چې مو مخکې د نورو سورتونو په ترڅ کې ورته نغوته کړې، د نورو ډېریو سورتونو په څېر ددې سورة د نزول په اړه د مفسرینو تر منځ اختلاف دی چې ځینې دا سورت مکي ګڼي او ځینې یې مدني ګڼي. او دا اختلاف د هاغو روایتونو پر بنا دی چې ددې سورت د نزول د سبب په اړه نقل شوي دي چې روایتونه یې په مختلفو تفسیرونو کې راغلي دي چون واضح او ثابت نه دي بیا ذکرول یې اړین نه دي، خو د یوې خبرې یادونه اړینه بولم هغه دا چې ددې سورت د تلاوت د ضرورت په نظر کې نیولو سره د حضرت رسول اکرم(ص) له لور په مختلفو وختونو او موقعیتونو کې مختلفو خلکو ته د شیزونو له شره د پالونکي ښتن درشل ته د پناه وړلو تلقین شوی دی او په مختلفو مهالونو او مقامونو کې یې بار بار دا سورة د وخت له تقاضا سره سم تلاوت کړی دی نو هر چا چې هره واقعه نقل کړې دا سورت یې د هماغې زماني له واقعې او مکان سره سم نازل شوی ګڼلی دی. خو سمه او جوته خبره داده چې دا سورة لکه څنګه چې په پیل کې وویل شول مکي دی او له دې سره سره د سورة په مضمون کې له غور کولو سره هم دا محسوسېږي چې دا سورت د مکې د ابتدایي دور له نازل شوو سورتونو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

د شرک ککړو عقيدو او افکارو په مقابل کې د پيغمبر او مسلمانانو له صريح، ځرګند او قاطع اعلام وروسته، چې د اخلاص په سورة کې يې فرمان ورکړل شوی دی (قل هو الله احد ...)، په دې سورة کې چې د مشـرکينو د شرونو، صدمو او زيانونو پر وړاندې ډال ګڼل کېږي، د تيارو د پردو خيـري کـوونکي پالونکي ښتن ته د پناه وړلو لار [استعاذه] ځرګندوي [قل اعوذ برب الفلق]، د هاغو ځيزونو له شره چې خلق کړي او پنځولي يې دي، همدا راز د جهل، ځور او جمود د تياره شپې له شره هغه مهال چې مسلطه او ټيکاو شي، او د حاسدانو له شره هاغه مهال چې حسادت يې وپارېږي. په دې ترتيب د اخلاص سورة پسې ددې سورة ځای نيول د توحيدي «منطق» او «تز» [مبحث او د بحث وړانديز] د وړاندې کولو او د هغه د تضمين د لارې تر منځ يو ظريف پيوند ځرګندوي.

هغه خدای چې «رب الفلق» دی او د پديدو او ښکارندو د ودې او کمال تدبير کوونکی او د مخلوقاتو تربيت کوونکی او روزونکی سرور دی، لکه څنګه چې د رڼا او نور له نيزې سره د شپې پرده څيرې کوي او د سپېدو له فلق او فجر سره [، د سپيدو له چاودېدو سره]، روښنايي او د ورځې تودوخه پر مخلوقاتو خپروي، باطلې او د شر تياره پردې د خير او حقوالو وګړو د عمل او ايمان له نور سره څيرې او لېرې کوي او صبح صادق [رښتينی ګهيځ او رڼا] په ټولنو کې رامنځته کوي، پر دې بنا سره له دې چې د اخلاص سورة د تلاوت پر مهال د بعثت په لومړيو کلونو کې د ابوسفيانانو شوم سيورى لکه د «غاسق اذا وقب» په څېر پر ټولو ځايونو خپور وو او د سِحر او جادو او طلسم پر بنسټ بنا شوى فرهنګ او تبليغات حاکم ول، لکه د ړندې غوټې په څېر د خلکو د عقيدو او فکرونو پر پښو او لاسونو تړل شوې وه [وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ] او همدا راز قومي او د کورنيو تنګ نظريو او حسادتونو، مؤمنو وګړو ته ډګر نه ورکوه [وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ]، له دې حال سره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيغمبر او مؤمنينو دنده درلوده په هاغو د شر او پسات په چاپيريال او شرايطو کې، د هيلو او اميد سترګې د «رب الفلق» عنايت او د درې ګونو پنډو پردو څيرې کېدو ته ولري او د ګهيځ او صبح صادق راختنې او طلوع ته انتظار وکاږي، او همدا لامل دی چې د فلق سورة د اخلاص سورة پسې راغلی دی.

د مخکيني سورة په شرحه کې وويل شول چې د شرک او توحيد تر منځ بريد د انسانانو په عالم کې د الله تعالی د «ربوبيت» عملي تلقي کول او منل دي. لکه څنګه چې په مخکيني سورت کې د توحيد بنسټيز اصول څرګند او واضح شوي دي، په دې سورت کې په ايماني مجتمع کې د هغه د تحقق لار، «رب» ته د پناه وړلو له لارې څرګندوي. مشرکينو پر «الله» له ايمان درلودلو سره سره د هغه ربوبيت په «ارباب متفرقون» کې لټوه او نفع او ضرر يې د برلاسو واکمنانو په لاسونو کې ليدل. نو دې توحيدي نهضت ته ايمان راوړونکو چې د «قل هو الله احد» غږ پورته کړی دی، که غواړي په دې مسير او لارليکه کې خالصانه پل کېږدي، بايد «رب» ته پناه وړونکي شي او د هغه د تدبير، روزنې، پالنې او تربيت مهربان لاس تل او پرله پسې پر خپل سر ووينې.

سربېره پر دې دا سورت د «تبت» له سورة سره هم په يو ظريف ډول اړيکه لري. [د تبت سورة چې له اخلاص سورة څخه مخکې ځای پر ځای دی] که د فلق په سورة کې يې له شرونو څخه د ژغورنې او نجات لار ښوولې، د «تبت» په سورة کې يې د هغه ټاکلی او مشخص مصداق او څرک، په ابی لهب او د هغه په مېرمن کې پر ګوته کړی. د پيغمبر له مخالفينو او مشرکو او معاندو اشخاصو له منځه داسې نه برېښي چې بل څوک، د ابولهب په څېر دا ډول د هاغه عصر په جاهلانه تعصباتو او بندونو او پنډو او تورو پردو کې اسير او محکوم وي، [غاسق اذا وقب] ښځه يې هم چې د جګړې د اور بلوونکې او په دې توطئو کې د هغه هڅوونکې وه، د «نفاثات فی العقد» مصداق ګڼل کېده، چې د مؤنثې صيغې [نفاثات] په توګه کارول شوې ده. [د ابومسلم په وينا: «النفاسات هاغه ښځې دي چې د نارينه رايه ځانته جلبوي او هغوی له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد او ارادې اړوي، ځکه له عـزم او رأی څخـه پـه عقـد تعبير کيـږي ...».
ځينو له مفسـرينو نفاسات د ښځو په جـادو گـرۍ تعبيـر کـړی دی پـه داسـې حال کې چې په هاغه دوران کې داسې برېښـي چـې لـه ښـځو څخـه زيـات، نارينه په دې کار کې بوخت ول.].

د ابی لهب د حسادت په اړه هم همدومره بسنه کوي چې يادونه وکړو، هغه سره له دې چې د پيغمبر تره او د هغه د زومانو پلار وو، له هاغه حضرت سره يې د هغه د ټولو دښمنانو په نسبت زياته دښمني کوله. [و حاسد اذا حسد] که د پيغمبر نور مخالفين، چې ډيری يې له بنی اميه څخه ول او له بنی هاشم سره پردي ول، له هغه سره د رقابت او دښمنۍ له لامله نښتل، خو [«ابی لهب»] د «حسادت» له لامله ستغې سپورې، ښکنځلې او زورلې کولې.

د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾ | | أَعُوذُ = پناه وړم، پناه غواړم ـ عوذ = له شره پناه اخېستنه، د پناه ورکوونکي په حريم کې ننوتل ـ الْفَلَقِ = چاودېدل، ټوکېدل، برسېره کېدل، پنځېدل، لمرخرک گهيځ، سپېدې، د تياره ځيرول، هاغه حق چې ځرگند شو ـ خَلَقَ = پيدا کړي، پنځولي ـ غَاسِقٍ = ډېره تياره شپه، يرغل کوونکی، تور مار ـ وَقَبَ = تياره خپره شوه، توره تياره چې هر څه ونغاړي، شپه چې توروالی يې پېر شي، چې تکه توره تياره شي، لمر پريوت، يو ځيز داخل او پټ شو، الوقب = په ډېره کې جغوړی ـ النَّفَّاثَاتِ [د نفاثه جمع] = پوُکې کوونکي، پُوکونکي، جادوگرې ښځې، کوډگرې ښځې ـ الْعُقَدِ = د عقده جمع، گنډې، غوټې، معامله، تړون، عزم ـ حَاسِدٍ = حسد کوونکي، کينه کښ، رخه گر ـ حَسَدَ = حسودي وکړې، خپل حسد ښکاره کړي، کينه وکړي ـ |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾

وواېه: [زه د مشرکينو پر خلاف] د سباوون[۱] [سپېدې چاودنې] [= هغه چې خپره شوې تياره يې ځيرې کړې] پالونکي ښتن ته پناه وړم،[۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾

د هر هاغه څه له شره چې پنځولي[۳] یې دي.

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾

او لـه هرې تکې تورې پنډېږې تیاره[۴] [= ظلمت، ظلم او ځور او جهل او ...] له شره چې خپره شي[۵] [= بر لاسي شي].

وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾

او په غوټو[٦] [= پیوندونو او تړونونو] کې د کوډو پُوکي کوونکـو[۷] [= فرېبګـرو او تګمارو] له شره [چې هر هوډ سستوي].

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

او د هر کینه کښ [او رخه ګر] لـه شره، کله چې هغه کینـه وکـړي[۸] [= چې د کینې غوټه یې پرانېستل شي].

| قُلْ | أَعُوذُ | بِرَبِّ | الْفَلَقِ | مِنْ | شَرِّ | مَا خَلَقَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وواېه | زه پناه وړم | پالونکي څښتن ته | د سباوون | له | شره | د هاغه څه چې هغه پنځولي |

| وَمِنْ | شَرِّ | غَاسِقٍ | إِذَا | وَقَبَ | وَمِنْ | شَرِّ | النَّفَّاثَاتِ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او له | شره | د پنډېږي تیاره | کله چې | خپره شي | او له | شره | د کوډګرو پوکي کوونکو |

| فِي | الْعُقَدِ | وَ | مِنْ | شَرِّ | حَاسِدٍ | إِذَا | حَسَدَ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ......کې | غوټو | او | له | شره | د کینه کښو | کله چې | هغوی کینه وکړي |

## د سورت د مفرداتو لنډه تشریح:

۱ ـ دا فرمـان چـې: وواېـه پنـاه وړم د فلـق ربّ تـه، د هـاغو خلکـو پـه مقابـل کـې د څرګنـد فکـري او عملـي دريـځ اعلامـول دي چـې شرک وهـلي او پـه خرافـاتو ککـړ دي او د پېښـو، نـاروغيو او د ژونـد د ناسـميو پـر وړانـدې بُتـانو، کاهنـانو، سـاحرانو، کـوډګرو، طلسـم او جـادو او د ثـروت او قـدرت اربابـانو تـه پنـاه وړي، او کـه لـه دې پرتـه وای، څـه اړتيـا وه چـې پـالونکي څښـتن تـه اړيکـه او اسـتعاذه پـه څرګنـده توګـه اعـلام شي؟ [د اللـه پـر ځـای] د رب نـوم تـه پناه وړل هـم د پـالونکي څښـتن، د روزونکې، پالونکي، مديريت او د کارسازۍ نقش ته نغوته لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـ خدای تعالی البته شر نه پنځوي، خو د چارو د نسبي والي له لامله، کوم څيز چې په اصل کې خير دی، کيدی شي د شرّ موجب هم وګرځي؛ لکه ليوه د پسه لپاره؛ اور د درمند لپاره. دنيا د تضاد او تزاحم ځای دی او د بقاء او روزی د لټې د هڅو په پايله کې رشد او کمال حاصليږي. د داړونکو لپاره منګولي او غاښونه د هغوی د ژوند ضرورت دی او هم د هغوی د ښکار لپاره په ورته توګه اړين دي! چې د بقاء په کړلېچونو کې چُست او چالاک شي.

په دې حقيقت له پوهېدو سره چې د پالونکي څښتن له ارادې او د چارو له عالمه کوم شرّ نه پورته کېږي، او کوم شرونه چې په عالم کې واقع کېږي پخپله د انسانانو له کړونو او د موجوداتو له غريزو او د طبيعت له فعل او انفعالاتو څخه راولاړېږي، انسان ته داسې يو ليد ورکوي چې نه نهيلی او ناشکری شي، او نه د جهان د تحولاتو لپاره د دوه ګوني منشأ په توګه قايل شي. په دې صورت کې هغه د خسرو هر کار شيرين ګڼي. [دمثنوی لومړی دفتر له ۵۸۲، ۱۷۸۹، ۱۸۹۰ او ۱۸۵۰ بيتونو څخه وروسته]:

| | |
|---|---|
| عاشقم بر قهر و بر لطفش به جِدّ | بوالعجب من عاشق اين هر دو ضد |
| ناخوش او خوش بُوَد در جان من | جان فدای يار دل رنجان من |
| عاشقم بر رنج خويش و درد خويش | بهر خوشنودی شاه فرد خويش |
| آن که او بسته غم و خنده بُوَد | او بدين دو عاريت زنده بُوَد |
| باغ سبز عشق کاو بی منتهاست | جز غم و شادی در او بس ميوه هاست |
| عاشقی زين هر دو حالت برتر است | بی بهار و بی خزان سبز و تر است |

۳ ـ ظلم [ستم] او ظلمت [تياره] له يوې ريښې دي؛ د استعارې په مقام کې هم، دا د شپې اصطلاح د استبدادي نظامونو د ظلم او ستم د بيان لپاره، چرته چې ناشوني وي د هغه په اړه په صراحت خبره وشي، په سياسي ادبياتو کې ډېره زياته کارول کېږي:

په دې ځمکه هره شپه له دې آسمانه، يو يو ستوری وژل کېږي.
او د ستورو دا باران له دې آسمانه، له ځنډ پرته را اورېږي.

د «غَاسِق» فاعل اسم، نکره ذکر کېدل، د نامحسوسو او غير مادّي مفهومونو په انتقال کې، د ژوندانه د روزمره چارو لپاره د ابداع شوو کليمو او ژبې د ظرف د تنګوالي او له محدودو او ټاکلو معينو مصاديقو څخه د هغه د عاموالي او پراختروالي نښه ده. د «غاسق» مشتقونه د «غَسَقَ» له ريښې درې ځلې په قرآن کې راغلي دي چې د هغوی په

نظر کې نيولو سره کولی شو کولی شو غوره او ښه شپړه نتيجه واخلو. لومړی ځای د ورځې د رڼا لوړتيا [ځانبت]، د شپې د تياره د لوړتيا [د ء شاء د نمونځ د مهال] پر ورانديې راغلی دی: ـ «أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ....» [اسراء ۷۸ (۱۷:۷۸)]

دوه نور موردونه د هاغو سوځوونکو، تينګو او ناولو اوبو په اړه دي چې دوزخ وال يې ځښبي. په دې مورد کې هم د تينګوالي، نغښتوالي، تياره او تتوالي مفهوم يکې څرګند دی: «لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا. إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا». [نبأ۲۴ (۷۸:۲۴)] او هم «هَـٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ» [ص ۵۷ (۳۸:۵۷)]. خپره تياره يو انځور دی د راز راز مجازي او تکو تورو ظلماتي تيارو څخه لکه: شرک، کفر، جهل، ځور، خشم، حرص او طمع او د نفس هوا او نورې غوښتني چې پيغمبرانو دنده درلوده خلک الهي هدايت ته د رڼا او نور پر لور رهبري کړي [بقره ۲۵۷ (۲:۲۵۷)، مائده۱٦(٥:۱٦)، ابراهيم۱(۱۴:۱) او ۵(۱۴:۵)، احزاب۳۳(۳۳:۳۳)، حديد۹(۵۷:۹)، طلاق۱۱(٦٥:۱۱)].

۵ ـ د «إِذَا وَقَبَ» وصف د تياره داخليدل او برلاسی دی او د نور د هرې دريځې بنديدل دي. «وقوب» په لغت کې د ننوتو معنا لري؛ په تيره کې سورې ته هم چې اوبه يکې ننوزي «وقبه» ويل کيږي. دا ددې کليمې اصلي معنا ده، خو په مجازي حالتونو کې، د انسان پر عقل او ايمان د هغه د نفساني تيارو برلاسی، يا پر ټولنه د ظلم او ځور او جهل تسلط د «غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ» له مصاديقو ګڼل کيږي.

٦ ـ له غوټو [عُقَد] څخه مطلب ظاهراً هماغه د ستونزو، م شکلاتو او اختلافونو غوټه ده چې د ښځې او مېړه يا خلکو تر منځ له يو بل سره مخې ته راځي او ځنې کسان د هغوی د پرانيستلو او په ټولنه کې د سولې او پخلاينې د رامنځته کولو پر ځای د هغوی اور ته په پُوکې ورکولو او تازه کولو هغه «شعله ور» کوي او د غوټو د رندولو په توسه دښمنی لا ژوروي.

۷ ـ ويل کيږي چې د نفاسات مؤنث ذکريدل د کوډګرو ښځو د حضور او د هاغې واقعيت له لامله دی چې د جاهليت وګړو د ښځې مېړه په اختلاف يا بد خوندو پېښو کې ټوټکو، طاس، طلسم او روحي تلقيناتو ته پناه وړله، په دې بنه کې د «عُقَد» معنا د روزګار غوټې او بنديزونه ګڼل کيږي؛ خو اوس هم زموږ په روزګار کې ساده لوحي خلک د خپل ژوند د ناسميو د غوټو خلاصولو لپاره، د کار او زحمت او هڅو او پر رب

(c) ketabton.com: The Digital Library


الفلق خدای د توکل پر ځای، د جمکران په څاه کې په عریضو اچولو، د «اعتصام بحبل الله» پر ځای، پر ضریح او قبر د قفلونه تړلو، د خدای تعالی د اولیاء د الګو نیولو او د هغوی د توحید څخه د پلیونې پر ځای، له طلا او نقرې او هندارو او مرمرو له ډېرو سره د هغوی د قبرونو په سینګارولو او له خپله ځانه بېلو موهوماتو ته ترغیب کوي؟ او د پیر او میر په لمنو پورې ځانونه نښلوي او دم او تعویذ او تویټکې ترې اخلي. همدوی زموږ په روزګار کې « نَفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ » دي.

خو که عُقَد، ایماني او عقیدتي غوټې وګڼو، د ځینو ښځو نقش ته یا د هغوی د جاذبې لېوالتیا ته، د جدي هوډ او تصمیمونو او ارادو په سستېدو کې، یوه لطیفه استعاره ای تشبیه ده. په قرآن کې یې هم د ابی لهب د مېرمنې له اور راوړنې څخه په هاغه فتنه کې چې رامنځته کړې یې وه، یادونه کړې ده [د تبّت سورة]. په هر حال کې دا م شابه تعبیر هر ډول شبهه انګیز تبلیغ او تلقین نغاړي. عزم او اراده او قصد او همتونه د داسې لاملونو په توسه سستېږي چې د ورځې د تصمیمونو په هېرولو کې د شپې له نقش سره د تشبیه وړ وي. دا پخه خبره د خبرو د استاد، حضرت علي(ع) ده: «عزیمه او ولیمه [جدّي کار او د تورې لیکي والا آس خرونه] له یو بل سره نه یو ځای کېږي او ډېر داسې چې نوْم [خوب] د یوْم عزم له زړه وباسي او تیاره چې د همّت وېښتیا محو کوي» [۲۴۱ خطبه]

## د فلق سورة د ټولو [۱ ـ ۵] آیتونو بشپړه تشریح:

د قرآن د پای سورتونه لکه څنګه چې مخکې مو ورته اشاره کړې له «قل» سره پیل کېږي. موږ پوهېږو، په قرآن کې پنځه سورتونه داسې دي چې د «قل» له کلیمې یا فعل سره پیل کېږي. د پای «څلورقل» سورتونه او د «جن» سورة.

دا سورة [الفلق] هم ددې ډلې د نورو په څېر د «قُل» له فرمان سره پیل کېږي: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ.

د قُل امر، په دې سورة او ورپسې سورة کې – لکه د «الکافرون» او «اخلاص» په سورتونو کې او د «قُل» د نورو امرونو په څېر چې په قرآن کې ډېر زیات راغلي؛ هغه فرمانونه دي چې د خدای تعالی له لوري پیغمبر ته د نبوت د مقام په عنوان چې باید نورو ته اعلام شي ورکړل شوي، او نور باید د فرمان د مضمون په اړه پوه شي او له پوهېدو سره سم له هغه پیروي او پلیوني وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا فرمان چې: ووايه پناه وړم د فلق ربّ ته، د هاغو خلکو په مقابل کې د څرګند فکري او عملي دريځ اعلامول دي چې شرک وهلي او په خرافاتو ککړ دي او د پېښو، ناروغيو او د ژوند د ناسميو پر وړاندې بُتانو، کاهنانو، ساحرانو، کوډګرو، طلسم او جادو او د ثروت او قدرت اربابانو ته پناه وړي، او که له دې پرته وای، څه اړتيا وه چې پالونکي څښتن ته اړيکه او استعاذه په څرګنده توګه اعلام شي؟ [د الله پر ځای] د رب نوم ته پناه وړل هم د پالونکي څښتن، د روزونکې، پالونکي، مديريت او د کارسازۍ نقش ته نغوته لري.

د نبوت له مقام او د قرآن له ابدي فرمانونو سره مناسب نه دي چې وويل شي دا اوامر دي د پيغمبر اکرم(ص) د خصوصي ژوند په اړه وي يا دا چې د ذکر او وِرد تش کوم دستور دې وي چې يوازې په ژبه ذکر شي. دا چې وايي: «قُل» ووايه؛ په واقعيت کې ځانته او نورو ته يو ډول تلقين دی دا د «قُل» فرمان، په قرآن کې ۳۳۲ ځلې تکرار شوی دی. او دا پخپله ددې دليل دی چې قرآن د پيغمبر(ص) کلام نه، بلکې د خدای تعالی کلام دی.

ځکه که د پيغمبر خبره او وينا وای، يا يوازې پيغمبر ته وينا وای، پخپله يې خپل ځان ته نه ويلې؛ ووايه، که څوک له تاسو وغواړي چې يو مطلب پلانکي سړي ته ووایاست، آيا تاسو کله چې غواړئ هغه ته ووایاست لومړی خپل ځان ته وایاست «ووايه»؟ تاسو خو د «ووايه» فرمان او خطاب، نور د لفظ په توګه نه لېږدوئ، بلکې عملاً يې سر ته رسوئ. د قرآن آيتونه د الهي کلام په توګه، د حضرت رسول اکرم(ص) دنده وه لکه څنګه چې ورته نازل شوي د امانت په توګه خلکو ته ولېږدوي، نو ځکه حضرت رسول ته چې د «قُل» په بڼه کوم امر شوی دی د «قُل» لفظ هم له آيتونو سره سم لېږدوي، او له دې جوتېږي چې قرآن الهي کلام دی.

## پالونکي څښتن [رب] ته پناه وړل

د قرآن د پای دوه سورتونه پيغمبر اکرم(ص) ته د: «قُلْ اعُوذُ بِربِّ...» له فرمان سره پيل کېږي. د داسې کلام ويل نه يوازې د يو شخص خپل نفس ته تلقين

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی، بلکې د مشرکينو پر وړاندې د خبر اعلام او د يو ځرګند دريځ نيول دي، چه مشرکينو د مصيبت او تنګلاسۍ پر مهال «جن» ته پناه وړله او ناپيدا او نامعلوم ځواکونه يې د شرونو دفع کوونکي انګېرل.

«وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا.» [جن٦(٧٢:٦)] «او [دا چې] له انس [= پېژندل شوو] ځينو وګړو له جن [= پرديو يا موهوم او خيالي موجوداتو] ځينو وګړو ته پناه وروړله نو [دې توهماتو] يې [په جهل او خرافاتو کې] د هغوی سرغاړي ورزياتوله.»

د «عوذ» معنا د چا په حريم کې ننوتل، او استعاذه د پناهندګۍ غوښتنه او د اعُوذُ ويل، د هغې خبر او اعلام دی.

«أعُوذُ»: پناه وړم. متوسّل کېږم. نو «اعوذُ» له شر او زيانه د پناه اخېستلو اعلامول دي چې د هر انسان د اعتقاد او نړۍليد پر بنسټ توپيري او مختلف اينبودنځايونه او پناه ځايونه مومي، مشرکانو سره له دې چې پر الله ايمان درلود، د انسانانو د عالم په نسبت يې د هغه ربوبيت، پرښتو، [پيريانو او ناپېژندل شوو ځواکونو] ته سپارل شوی انګېره، په ستونزو او مصيبتونو کې به يې هغوی ته پناه وړله او عملاً هغوی يې خپل «رب» [ارباب] انګېرل، خو په دې سورة کې پيغمبر ته فرمان ورکول کېږي؛ ددې لپاره چې له ستونزو او نارسيو څخه د ژغورنې او نجات رڼا او نور ته ورسېږي؛ بايد «ربُّ الفلق» ته پناهنده شي چې د ټولو پديدو او ښکارندو پالونکی څښتن او د هرې تياره کوونکې پردې او پوښ خيرې کوونکی او لېرې کوونکی دی. داسې پردی، پوښونه او خنډونه چې د پديدو او ښکارندو له ښکاره کېدو، ځرګندېدو، لوړېدو او ودې او کمال څخه مخنيوی کوي.

په قرآنکريم کې يې ۷ ځلې د انسان له پناه وړلو څخه د «رب» نيک نوم ته له توسل سره، ۷ ځلې د «الله» جلاله نوم ته له توسل سره او يو ځل يې د «رحمن» نيک نوم ته له توسل سره يادونه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د رب له نوم سره ۷ ځلې توسل له لاندينيو آيتونو څخه عبارت دي:**

١ - «قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ...» [هـود٤٧(١١:٤٧)] «[نوح] وويل: پالونکی څښتنه؛ تا ته پناه دروړم، له دې چې، [يو ځل بيا] لـه تا د هاغه څيز غوښتنه وکړم چې پرې نه پوهېږم...»

٢ - «وَقُـلْ رَبِّ أَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ هَمَـزَاتِ الشَّـيَاطِينِ.» [مؤمنـون٩٧(٢٣:٩٧)]. «او [پـر تعصـب او خشـم او خشـونت د برلاسـی لپـاره] ووايـه: پـالونکی څښـتنه؛ زه د شـيطانانو [= شـيطان صـفت وګـړي يـا شـيطاني خيالونـه] لـه عيـب پلټنـې او نفرت اچونې څخه تاته پناه دروړم».

٣ - «وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ» [مؤمنون٩٨(٢٣:٩٨)]. «او تاته پنـاه دروړم، پالونکی څښتنه؛ له دې چې [شـيطاني فکرونـه يـا وګـړي] پـر مـا حضـور ومـومي [= دهغوی له پاروني او وسوسو سره مخامخ شم]».

٤ - «وَقَالَ مُوسَى إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَـابِ» [غافر٢٧(٤٠:٢٧)]. «او موسی [ددې ګواښنې په ځواب کې] وويل: په جوتـه توګـه زه د هر هغه متکبر له شره چې د حساب پر ورځ ايمان نلـري، خپـل پـالونکي څښتن ته او ستاسو پالونکي څښتن ته [چې باور پرې نلرئ]، پناه وړم».

٥ - «وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَنْ تَرْجُمُونِ» [دخان٢٠(٤٤:٢٠)]. «او [هغه ته چې] زما پالونکی څښتن او ستاسو پالونکی څښتن دی پناه وروړم، که تاسو غوښـتي وي ما [له خشونت سره] وشړئ».

٦ - «قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ». [فلق١(١١٣:١)]. «ووايـه: [زه د مشـرکينو پـر خـلاف] د سباوون پالونکي څښتن ته پناه وړم. [= هغه چې خپره شوې تياره يې ځيرې کړې]».

٧ - «قُلْ أَعُوذُ بِـرَبِّ النَّـاسِ» [نـاس١(١١٤:١)]. «ووايـه: د خلکـو ربّ [پـالونکي څښتن] ته پناه وړم [= د هغوی حقيقي ارباب او د اختيار خاوند]».

**او ۷ ځلې د «الله» له نوم سره د توسل آيتونه عبارت دي له:**

١ - «...قَالَ أَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ أَكُـونَ مِـنَ الْجَـاهِلِينَ» [بقره٦٧(٢:٦٧)]. «...[موسی] وويل: زه الله ته پناه وړم له دې چې له جاهلانو اوسم!».

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - «وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ.» [اعراف۲۰۰(۷:۲۰۰)]. «او هر مهال چې [له جاهلانو سره په مقابله کې] شيطاني لمسونه [د ورته مقابلې په توګه] پر تا غلبه وکړي، نو الله ته پناه يوسه چې بېشکه هغه پوه اورېدونکی دی».

۳ - «... قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ...» [يوسف۲۳(۱۲:۲۳)]. «...[يوسف ورته] وويل : پناه پر الله! په حقيقت کې هغه [= ستا مېړه] خو زما ارباب دی او زما مقام او موقعيت يې ډېر ښه ساتلی دی...»

۴ - «قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ أَنْ نَأْخُذَ إِلَّا مَنْ وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهُ إِنَّا إِذًا لَظَالِمُونَ» [يوسف۷۹(۱۲:۷۹)]. «[يوسف] وويل : الله ته پناه [وړم] ،که له هغه پرته بل څوک، چې خپل توکی [زرّين کټوری] مو ورسره موندلی، ونيسو؛ نو په دې صورت کې به هرومرو له ظالمانو يو».

۵ - «فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ» [نحل۹۸(۱٦:۹۸)]. «نو هر مهال چې قرآن ولولې، [د حق له رحمته] له رټل شوي شيطان [د وسوسو له شرّ] څخه الله ته پناه يوسه».

٦ - «... فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ» [غافر٥٦(٤٠:٥٦)]. «...نو [د مغوی له شرّه] الله ته پناه يوسه چې هغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی».

۷ - «وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» [فصلت٣٦(٤١:٣٦)]. «او هر مهال چې د شيطان له لورې کومې لمسونې پر تا غلبه وکړه، نو الله ته پناه يوسه چې بېشکه هغه پوه اورېدونکی دی[تا به پر نفس په برلاسی کې ټيکاو کړي]».

او يو ځل د رحمان له نوم سره توسل د مريم سورة ۱۸ آية کې دی.

« قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا» [مريم۱۸(۱۹:۱۸)]. مريم وويل: زه له تا رحمان [خدای] ته پناه وړم، که پرهېزګار يې [له ما لېرې شه].

چې په دې آيتونو کې ډېری يې د شيطان له شره او د هغه له وسوسو پناه وړل دي [آل عمران٣٦(٣:٣٦)]، [اعراف۲۰۰(۷:۲۰۰)]، [نحل۹۸(۱٦:۹۸)]،

(c) ketabton.com: The Digital Library


[مؤمنون۹۸(۲۳:۹۸)]، [فصلت ۳٦ (۴۱:۳٦)]. ددې شرونو سرچينه کله خارجي وي، لکه فرعونان او مستکبرين [غافر ۲۷(۴۰:۲۷) او ٥٦]، [دخان ۲۰(۴۴:۲۰)]. او ډېرې يې داخلي او له نفساني عارضو څخه وي. په داسې ډول چې خدای تعالی ته د پناه وړولو ډېرې اړتياوې هاغه مهال توصيه شوې دي چې انسانان د خپلو مخالفينو پر وړاندې د عمل شدت او خشونت ته هڅول کېږي او شيطان هغوی غچ، کسات، دښمنۍ او ښکنځلو ته سموي [اعراف۲۰۰(۷:۲۰۰)] ـ [مؤمنون۹۷( ۲۳:۹۷) او ۹۸] ـ [فصلت۳٦(۴۱:۳٦)]. خدای تعالی ته د پناه وړلو له نورو موردونو څخه؛ جهل [بقره ٦۷(۲:٦۷)] [د عقل پر ځای د احساساتو واکمني]، ناپوهي [هود۴۷(۱۱:۴۷)]، د شهوتونو واکمني [يوسف۲۳(۱۲:۲۳)] او [مريم ۱۸(۱۹:۱۸)]، قانون ماتونه [يوسف۷۹(۱۲:۷۹)]، د شرک او شيطاني ولايت [غافر٥٦(۴۰:٥٦)]. او... دي.

په ټوليزه توګه کومو آيتونو چې په قرآن کريم کې خدای تعالی ته پناه وړل مطرح کړي دي په ډېريو کې يې د شر سرچينه او د پناه وړلو لامل خپله د انسان له نفس او دننيو لاملونو څخه څرک ورکړی دی او دا په ګوته کوي چې د شيطان د لمسونې [او تحريک] اصلي ځمکه [او زمينه] د انسان نفس او د هغه د وجود دنني علتونه دي. سره ددې چې په دې سورت کې په ځانګړې توګه له داسې شرونو نوم اخلي چې خارجي جنبه لري او له هغوی څخه د ژغورنې او نجات لار «رب الفلق» ته په پناه وړلو کې څرګندوي.

«فَلَق» [د شفق پر وزن] د «فلْق» له مادې څخه دی. په اصل کې، د يو څيز د پرانېستلو او بېرته کولو او ځېنې له ځېنو څخه د بېلولو په معنا دی، او لکه څنګه چې د ګهيځ د سپېدو د څرګندېدو پر مهال، د شپې توره پرده بېرته کېږي، دا لغت د ګهيځ د طلوع په معنا، کارول شوی، لکه څنګه چې «فجر» هم له همدې مناسبته د ګهيځ د طلوع لپاره کارول کېږي.

ګواکې له «فلق» څخه مطلب په دې سورت کې چې له معرفه او معهود «الف» او «لام» سره راغلی دی، همدا د ګهيځ فلق به وي چې د شپې پرده د نور له

(c) ketabton.com: The Digital Library


نيزې سره خيرې كېږي او خندان لمر د افق له منځه سر وهي او ځمكه روښانه كوي. نو دا لفظ د ګهيځ د طلوع په معنا كارول شوى دى. ځېنو هغه د خلق په معنا، يعني د جهان ټول مخلوق ګڼلى دى. يعني د هستۍ له خلق او پنځګرۍ سره د عدم پرده خيرې شوې ده او د وجود نور ښكاره شوى دى، او هره ورځ، هر ساعت او هره شېبه د هر موجود له خلق كېدو او پنځېدو سره د نيستۍ پرده خيرې كېږي او د هستۍ بڼه ترې سر راوباسي. نو له دې حال سره د فلق معنا د ګهيځ د طلوع له مصداق څخه عام تره او ډېره پراخه ده، او د رشد او ودې لپاره د يوې ښكارندې له شاوخوا چې ښكاره كېدو او لوړېدو ته چمتو شوې ده د هرې پردې او پوستكي څېرې كېدل څرګندوي. پر دې بنا خداى تعالى هم «فَالِقُ الْإِصْباحِ» دى ـ [انعام٩٦(٦:٩٦)] او هم «فَالِقُ الحبِّ و النَّوى» دى [د دانې او زړي پرانيستونكى دى] ـ «إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَى يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ...» [انعام٩٥(٦:٩٥)] «بېشكه الله [نه ستاسو خيالي شفيعان] د دانې او زړي چوونكى دى او له مړي [خاورې له زړه] څخه ژوندي [نباتات] راوباسي او له ژوندي [حيوان يا ګياه] څخه مړه [سلولونه] خارجوي. [د الله [كار] دا ډول دى....».

بنديزونه، خنډونه، نيواكګرۍ او شرونه هم لكه د حبوباتو او مېوه جاتو د پوټكو او زړو په څېر د انسان د نفس د رشد او ودې لپاره لنډمهالي خنډونه او مخ نيوونكي دي. كه د «الفلق» الف او لام خاص «فلق» ته اشاره وي، د هغه مشهورې معنا پورې، چې د «سپېدې فلق» دى اړه نيسي. او كه اشاره نوع او ډول ته وي هر ډول «فلق» پكې شامليږي: هاغه وړانګه چې د تياره له بيرته كېدو، او هغه ګياه او ځناور چې له ځمكې او كركيلي او تخم او رحم څخه سر راوباسي، هاغه چينې او اورښتونه چې د غرونو او تپل شوو، پرېړو او نغښتو وريځو له منځه جاري كېږي او بهيږي، هغه عملونه او كړنې چې له نيتونو او خويونو، او هغه معارف چې له ذهنونو او فكرونو، او كوم صورتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مادې او عناصرو له ترکیبه، او یا وجود چې له نشته، شته کېږي او څرګندېږي، د فلق مثالونه ګڼل کېږي. الفلق ته د رب د نوم اضافت، د داسې یو پراخ او خپور ربوبیت څرګندونه کوي چې پرله پسې په جهان کې د راز راز طبقو، پوټکو او پردو لاندې، هر موجود پالي او کله چې ظهور او څرګندېدو ته چمتو شو ټولې پردې، پوټکي او خنډونه بېرته او لېرې کوي او هغوی ښکاره کوي. او هر هغه څیز چې د پردې او پوټکي له کبله ناڅرګند دی، پردې چوي او فلق بيه نيسي.

دا خنډونه چې کیدی شي خارجي او عارضي وي [لکه د چاپېریال لاملونه، مستکبرین او ظالمان] یا کېدی شي داخلي او ذاتي وي [لکه نفساني وسوسې او شیطاني تحریکونه]، چې لېرې کېدل یې د «ربّ» له ځواک او مرستې پرته شوني نه دي ځکه چې پالونکی څښتن د هرې خنډېزې او مزاحمې پوستې او پوټکي بېرته کوونکی دی [ربُّ الفَلَقْ]. پر دې بنا هاغه پیغمبر چې د رسالت په ابلاغ او د اسلام د توحیدي نهضت پر مخ بېولو کې د جهل او ځور له پردو او پوښونو او د مشرکینو له خرافاتو سره مخامخ دی، باید همداسې پالونکي څښتن ته پناه وړونکی شي: [قُلْ اَعُوذُ بِرَبَّ الْفَلَقْ].

د قرآن د پای دې دوو سورتونو ته «مُعَوّذَتَیْن» هم وايي. یعنې دوه داسې سورتونه چې د هغوی په پیل کې د أعُوذُ جمله راغلې ده؛ «عَوذ» یعنې پناه وړل. قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ. قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. هر دواړه خدای ته پناه وړل دي. هغه څوک چې قرآن ختموي او دا ټولګه زده کوي، کله چې غواړي دا کتاب بند کړي، د هاغه څه د ساتنې لپاره چې زده کړې یې دي خدای ته پناه وړي. له څه؟ د هاغو څیزونو له شره چې له قرآنه د زده کړل شوو څیزونو مخالف دي. ځکه چې د قرآن له ختم وروسته، په واقعیت کې هغه ته یو لړ حقیقتونه زده او څرګند شوي دي، چې اوس د هاغه څه له شره چې د ددې حقیقتونو مقابل، مخالف او متضاد دي باید خدای تعالی ته پناه یوړل شي.

أعُوذ – چې د «استعاذه» کلیمه له هغه سره هم ریښه ده – یعنې له هر خطره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای ته پناه وړم. او انسان تل له خطره د ځواک خاوند ته پناه وړي؛ لکه د کوچني ماشوم په څېر چې د مور غېږې ته پناه وړي. او دا يو واقعيت دی.

## شرونه او د هغوی نسبيت او تړاو:

مونږ پوهيږو چې دنيا زمونږ له ميل او لېوالتيا سره سمه نه چلېږي او هيڅ موجود هم له مخالف، متضاد او دښمن پرته نشته؛ هر يو موجود يو دښمن لري. حتا شنېلي او گياه گانې هم دښمن لري. گياه د ژوو په توسه خوړل کېږي. د انسان حکم هم همداسې دی. په دنيا کې د هر موجود لپاره يو لړ خنډونه، موانع او مزاحمتونه، د هغه په دننه او بيرون کې، شتون لري. پر دې بنا بايد له دې څيزونو څخه خدای تعالی ته پناه يوړل شي.

دا وروستي دوه سورتونه هاغه شرونه او خنډونه بيانوي چې بايد له هغوی د عالميانو پالونکي ښتن ته پناه يوړل شي. د «فلق» په سورة کې د انسان له وجوده بيرون شرونه بيان شوي دي، او د «ناس» په سورة کې د انسان د وجود دننني شرونه او هاغه څه چې زمونږ نفس ته اړوند دي، يا دا چې ځمکه او ډگر يې زمونږ په دننه کې شته دی؛ يعنې تر هاغې چې هاغه زمينه او وړتيا او استعداد ونلرو، دا شرّ په مونږ کې اغېز نه پرېږدي. پر دې بنا، دا دوه سورتونه د شرونو دوه ډلې او بنډلونه څرگندوي.

د قرآن د نزول په زمانه کې به مشرکينو معمولاً خپلو بُتانو ته پناه وړله. او دا بُتان يې د پرښتو او په جهان کې د نورو اغېزناکو ځواکونو سمبولونه گڼل. البته خدای تعالی يې منه – چې مخکې مو په دې اړه تفصيلي خبره کړې – خو ويل يې خدای تعالی «رب الارباب» او د پرښتو پنځگر او خالق دی او يوازې له پرښتو سره سروکار لري او له مونږ سره نيغ په نيغه او مستقيمه اړيکه او تړاو نلري او مونږ بايد همدې بُتاتو ته، چې لاسرسی ورته لرو، پناه يوسو؛ دوی د الله په نزد زمونږ واسطې او شفيعان دي. پر دې بنا قرباني به يې هم بُت ته کوله. که کله به وچکالي کېدله، او يا که کوم ستر مصيبت او وبا راتله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په همدې ډول هر څه به چې پېښېدل، خپلو بُتانو ته به يې، چې د پرښتو سمبولونه يې ګڼل، پناه وړله. په دې دوو سورتونو کې غواړي ووايي چې هيڅوک د پناه وړلو او پناه غوښتلو وړ نه دی پرته له «رب الارباب» څخه. «ربّ»، لکه څنګه چې مخکې مو وويل همدا د ارباب معنا لري – دا کليمه په پښتو کې هم د ارباب په بڼه کارول کېږي.

ارباب يعنې د اختيار خاوند، چې په انګلېسي کې ورته «Senior»، «Lord» وايي، يعنې هاغه څوک چې جهان اداره کوي. خو «ربّ» له «اله»، او«ربوبيت» له «الوهيت» سره توپير لري. د شيطان له شره پناه وړل عمدتاً «ربوبيت» ته حق دی. مخکې مو وويل چې په قرآنکريم کې، اوه ځلې «ربّ» ته له پناه وړلو خبره شوې او اوه ځلې پناه وړل «الله» ته او يو ځل هم «رحمان» ته. په قرآن کريم کې، خدای تعالی ته پناه وړل عمدتاً د شيطان له شره دي. بايد پوه شو چې انسان له دوو ځواکونو سره مخامخ دی:
رحماني ځواک او د هغه متضاد ځواک چې شيطاني ځواک دی – «شيطان» چې په هره معنا ونيسو – په هر حال کې هم د يوې منفي جاذبې ځواک او هم د يوې مثبتې جاذبې ځواک په دنيا کې شتون لري. ځينې کسان چې کېدی شي شيطان و نه مني او دا ديني باور ورته د منلو وړ نه وي، خو هيڅوک نشي کولی له دې انکار وکړي چې انسان د دوو ځواکونو او دوو کششونو تر اغيز لاندې واقع دی. په دنيا کې هيڅ ځای او هيڅ مهال داسې نه شته چې ټول وګړي يې له استثنا پرته ښه يا بد وي.
ټول دا مني چې په هر حال کې انسان د دوو ځواکونو په ښه کې واقع دی؛ دوه جاذبې دي چې هره يوه هغه خپلې لور ته کشوي. له دې هيڅوک هم انکار نشي کولی. د لفظ او نوم پر سر يې هم بحث نه کوو؛ هر نوم چې غواړي پرې کېږدي؛ شيطان پرې نوم ږدي يا ديو. يا کوم بل هر نوم چې پرې ږدي يا اصلاً نوم پرې نه ږدي، خو دا واقعيت شتون لري او انکار ترې نشي کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی موضوع چې بايد له هغه «رب الفلق» ته پناه يوړل شي، هاغه شرّ دی چې له هاغه څه څخه راولاړېږي، چې خدای تعالی پنځولي او خلق کړي دي [مِنْ شَرِّ ما خَلَقَ]. دلته پوښتنه مطرح کېږي چې مګر سبحان خدای ته چې د خير او رحمت لامل، آره او مونږ دی، څنګه کېدی شي د شر پنځونه ورته نسبت ورکړل شي او آيا هغه پخپله د شر د دفع کولو ځواک نلري؟ ددې پوښتنې ځواب دادی چې په پورتني آيت کې يې شر لـه خلـق څخه ګڼلی [من شر ما خلق] نه له خالق، چې هغه د خير بنسټ او لامل دی. يعنې ددې مفهوم دا نه دی چې الهي پنځونه او خلق کـول پـه خپـل ذات کـې کـوم شرّ ولري؛ ځکه چې پنځونه او خلق کول، همدا ايجاد او رامنځته کـول دي، او ايجاد او وجود محض خير دی، قرآن وايي: «الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ...» [سـجده۷(۳۲:۷)]. «هماغـه خـدای چـې هـر څـه يـې پنځـولي، ښـه يـې پنځولي...». بلکې شر هاغه مهال پيدا کېږي چې مخلوقات د خلقت لـه قوانينو منحرف شي او له ټاکل شوې تګلارې بېل شي، د بېلګې پـه توګـه: د حيوانـاتو نـېش او غاښـونه د هغـوی لپـاره دفـاعي وسـيله ده، چـې د خپلـو دښمنانو په مقابل کې يې کاروي، لکـه د هـاغې وسـلې پـه څېـر چـې مـوږ د دښمنانو په مقابل کې ترې استفاده کوو، که دا وسـله پـر ځـای وکـارول شي، خير دی، خو که بېځايه او د دوست په مقابل کې مصرف شي، شرّ دی، همـدا راز که د اتوم انرژي د برېښنا د توليد لپاره وکارول شي خير دی او که د بم د توليد لپاره وکارول شي شرّ دی.

«شَرِّ»: يعنې بلا او بدي. «شَرِّ مَا...»: «مَا» ته د «شَرِّ» په اضافت کې دا اشـاره ده چې پالونکي څښتن انسان پر دې پـوه کـړی هـر شرّ چـې لـه مخلوقه ولاړ او صادرېږي، هماغه مخلوق ته نسبت او تړاو لري. محض او مطلق شر شـتون نـه لري، خير او شر اصولاً نسبي او لنډمهالي چارې دي چې له عالمه خارج کـوم واقعيت نه لري او د هر موجود د شرايطو او اوضاعو پـر حسـاب تغييـر کـوي، هغه څه چې تاته شرّ دی، د بل موجود په نسبت خير دی. لکه لېوه د پسـه لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظره یو ظالم او تېرېګر ژوی دی نو پر دې بنا لېوه پسه ته «شر» دی، په داسې حال کې چې د پسه دارنه د لېوه طبیعي اړتیا ده او د هغه لپاره «خیر» ګڼل کېږي. نو لېوه پخپله شرّ نه دی بلکې د هغه شرّ د پسه په نسبت برسېره کېږي [مِنْ شَرِّ ما خَلَقَ]. همدا راز باد او باران، واوره او ساړه چې د طبیعت د ژوند اړینتیا او له یوې مخې «خیر» دي، شونې دي د هاغه چا لپاره چې سرپناه او بسیا اغوستن ونلري «شرّ» وګڼل شي.

ټوپک یوه دفاعي وسیله ده؛ د ظالم او سرېخور دښمن پر لور د نښې نېول یې خیر، او د دوست یا بېګناه انسان پر لور نېول یې شرّ دی. اللّٰه هر څیز د یو کار، یو مصلحت او په جهان کې د تعادل لپاره پنځولی دی چې ډېری د هغوی د پیدایښت حکمت او فلسفه زموږ له سترګو پټه او پناه ده. که د یوې شپېې لپاره ټولې هاغه چارې چې مورِ یې شرّ انګېرو په خپل ذهن کې تېرې کړو څیر کېږو چې هغوی ټول زموږ د وضعیت په نسبت شر برېښي خو ذاتاً شر نه دي، اِن تر دې چې د ژوند په مختلفو پېروونو کې هم له هغوی د ځېنو خیر او شروالی د ژوند د متغیّرو سني حالتونو تابع دي. لکه د کوچنیانو په چارو کې د مور او پلار تلپاتې دخالت، مراقبت او څارنه چې «خیر» دی خو له بلوغ او ځوانۍ وروسته د هغې افراطي ادامه او غځونه د هغوی پر نفس د اعتماد او وېسا د پرې کونې [«شرّ»] موجب او لامل کېږي.

ځېنې شرکي فکري مکتبونه، د جهان لپاره په دوه ګونیتوب او ثنویت قائل شوي دي او شیطان ته د شرونو له نسبت ورکولو سره، په هستۍ کې د هغه لپاره ځانګړی، مستقل او ذاتي موقعیت قائل شوي دي. په داسې حال کې چې په اسلام کې یې خدای تعالی د شیطان خالق، او د یو ټاکلي وخت لپاره د بندګانو د ابتلاء او ازمېښت په موخه د لارورکو د تېراېستني لپاره، هغه ته مهلت ورکوونکی، معرفي کړی دی. نو امتحان او ازمېښت [هر ډول یې] که له یو لور سخت او ستونزمن دی، ډېر زیار غوارِي او ظاهراً شرّ دی، په واقعیت کې له بل لور یو «خیر» هم دی چې کېدی شي د آرام غوښتنې له اړخه شرّ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبرېښي. مصيبتونه، مزاحمتونه او کړاوونه چې پر مؤمنينو راځي، او همدا راز د متجاوزينو پر وړاندې مقابلې او مبارزې، سره ددې چې شرّ او ناسمې او کرکجنې ښکاري، خو دا د مجاهدو او مؤحدو مؤمنينو د پيدايښت او ټيکاو لپاره يو امتحان او ازمېښت دی او له دې ليده خير ګڼل کېږي. نو د چارو د خېر يا شرّ ليدل د انسان د کتنې په زاويې يا ليدګوټ پورې تړاو لري.

که خدای تعالی «رب العالمين» وګڼي او ټولې نېکې او بدې پېښې او واقعې د هغه له مشيّت او ارادې څخه راولاړې وګڼي، د مصيبتونو او کړاوونو پر څپو سپاره شوي، د پېښو توپان د خپل وجود د کښتۍ لپاره ازمېښت او ابتلاء تلقي کوي او کوښښ کوي له صبر [د څپو پر وړاندې مقاومت او ټيکاو] او شکر [د باد له ځواک او اسانتياو څخه له برخمن کېدلو] سره خپل حرکت د ژغورنې او بريالېتوب د ساحل پر لور پر نيغې او مستقيمې لارليکې وغځوي او مخالف خنډېز او ماتوونکی باد [شرّ] له هاغه تغيير او انعطاف سره تجزيه کړي، چې له توپان سره د بادوان په مخامخ کېدو او د واګو له تاوېدو سره يې، په زاويه کې رامنځته کوي، او هره «برخه» يې خپلې ګټې [خير] ته را اړوي.

خدای تعالی البته شرّ نه پنځوي، خو د چارو د نسبي والي له لامله، کوم څيز چې په اصل کې خير دی، کيدی شي د شرّ موجب هم وګرځي؛ لکه ليوه د پسه لپاره؛ اور د درمند لپاره. دنيا د تضاد او تزاحم ځای دی او د بقاء او روزې د لټې د هڅو په پايله کې رشد او کمال حاصليږي. د داړونکو لپاره منګولې او غاښونه د هغوی د ژوند ضرورت دی او هم د هغوی د ښکار لپاره په ورته توګه اړين دي! چې د بقاء په کړلېچونو کې چُست او چالاک شي.

په دې حقيقت له پوهېدو سره چې د پالونکي څښتن له ارادې او د چارو له عالمه کوم شرّ نه پورته کېږي، او کوم شرونه چې په عالم کې واقع کېږي پخپله د انسانانو له کړونو او د موجوداتو له غريزو او د طبيعت له فعل او انفعالاتو څخه راولاړېږي، انسان ته داسې يو ليدلوری ورکوي چې نه نهيلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناشکرى شي، او نه د جهان د تحولاتو لپاره د دوه ګوني منشأ په توګه قايل شي. په دې صورت کې هغه د خسرو هر کار شيرين ګڼي.

د نړۍ ښکارندو او د عالم پېښو ته دا ډول ليد، يو ربوبي ليد دى، چې شرّ د رشد، ودې او تربيت د وسيلې په توګه ويني او په هر ځاى کې د «ربّ» د تدبير لاس ويني، چې له خير او حکمت پرته، له هغه نور څه نه راټوکيږي. خو که انسان په پيښو کې ايسار او محکوم شي او د مصيبتونو لپاره ربوبي منشأ او مصدر ونه مومي، خپل ځان د هغوى د موجونو پر وړاندې بايلي او هلاکيږي. له دې تنګ نظرۍ او لنډ وينۍ څخه د نجات لار، هماغه پر ربوبيت د ايمان په هدايت ښونکو انوارو کې د «رب» حريم ته پناه وړل دي. چې په دې حالت کې، د نهيلۍ، بې پروايۍ او بې زړه توب پر ځاى، هغه په هره پيښه او مصيبت کې د خير، کمال، نيکمرغۍ او بشپړتيا لپاره ځمکه او اساس ويني، او له پراخې سينې او نه تصور کېدونکي سخاوت او ورتيا سره، هغه ليوال دى چې د هر هغه ستر او جدي مسؤليت د هرکلي پر لور وځغلي، چې خداى تعالى ټاکلى او مقدر کړى دى!

منفعل او اغېزمن شوى انسان د ناپوهۍ او نادانۍ له مخې داسې يو څيز مکروه، ناوړ او ناسم ګڼي چې هغه په حقيقت کې د هغه لپاره «خير» دى او پر هاغه څه پورې زړه تړي چې د هغه لپاره «شرّ» دى «...وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ.» [بقره ۲۱٦ (۲:۲۱٦)] «...او ښايي يو څيز بد وګڼئ خو په هغه کې ستاسو خير وي او ښايي يو څيز تاسو خوښ کړئ چې ستاسو په ضرر دى او [ستاسو پر واقعي مصلحت يوازې] خداى پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ.».

بخيلي او له انفاقه امساک او سختي د خپل ژوند د مصلحت او « خير » په توګه انګيري، په داسې حال چې دا د هغه لپاره جوت شرّ دى « وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ.... » [آل عمران۱۸۰(۳:۱۸۰)] «او هغه کسان چې د الله له فضله ورکړې شتمنۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بُخل کوي، نه دې ګنې چې دا [جمع کول] د هغوی لپاره خیر دی، بلکې [دمال اسیر کېدل او تړاو] د هغوی لپاره شر دی...».

د خپلې بېړې او د دنیائي بېره ناک لید له مخې که څه هم د «خیر» غوښتنه کوي د نادانۍ او ناپوهۍ لـه کبلـه د «شرّ» غوښتونکی شي «وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا» [اسراء۱۱(۱۷:۱۱)]. «انسان [په ناپوهی کې د دنیايي لنډ وینی له لامله په ناغوښتې توګه] شر ته بلنه ورکوي، په داسې ډول چې ګواکې خیر غواړي او انسان ذاتاً بیړندی دی.».

خو کوم مهال چې په شر کې ونښلي له یو مخې خپل ځان بایلي او نهیلی کېږي. «...وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا» [اسراء۸۳ (۱۷:۸۳)] «...او هر کله چې ډېره لږه سختي هغه ته ورسېږي [د صبر او توکل پر ځای] په بشپړه توګه نهیلی کېږي».

داسې انسان خیر او شر ته ذاتي استقلال او اصالت ورکوي، په داسې حال کې چې دواړه چارې [خیر او شرّ دواړه] نسبي او د خدای تعالی په مشیّت پورې تړاو لري او ټول انسانان د خپل ځان پر لور د راستنېدو په لارلیکه کې په دا ډول یوه «فتنه» او ازمېښت کې مبتلاء کوي: «...وَ نَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ» [انبياء۳۵(۲۱:۳۵)]. «...او موږ تاسو [د ژوند په موده کې] له شرّ او خیر [له پېښو] سره ازمېیو او [په پای کې] زموږ لور ته راستنول کېږئ».

## د شرونو ډولونه

لکه څنګه چې مخکې مو وویل، شر دوه ډولـه دی چې یو خارجي او بل داخلي دی. یو زموږ له نفسه بیرون دی او بل زموږ په نفس کې دننه دی. د «فلق» په سورة کې، له هاغو شرونو څخه چې زموږ له نفسه بیرون دي خدای تعالی ته پناه وړو. «فلق» یعنې؛ چاودېدل [سپېده چاود]، څېرې کېدل؛ خو هاغه چاودېدل چې د یو څیز د ودې، رشد او غوړېدا لامل کېږي. د بیلګې په توګه د چرګې هګۍ په پام کې ونیسئ: دا د هګۍ پوټکی دی چې چرګوړی یې په خپل ځان کې ایسار کړی دی. خو همدا چې پوټکی مات

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي [وچوي]، تازه زېږد پيل کېږي. دې ښکارندې ته «فلـق» وايـي. يعنـې د داسې پوټکي چاودېدل چې يو ژوند يې محدود او محبوس کړی دی او د نوې زېږېدنې لپاره خنډ شوی دی. دلته غور کولو ته اړتيا ده چې ځنګه کېدی شي دا د چرګې هګۍ چې په پيل کې هيڅ ژوی پکې شتون نلري، د يو لړ تعاملاتو تر نېولو وروسته، هغه نطفه چې اصلاً د ليدو وړ هم نه ده، او ډېره وړه ده، په داسې ډول چې په لومړيو ورځو کې اصلاً پېژندل کېدی هم نشي، ورو ورو په تدريج وده کوي چې په پای کې پـه چرګـوړي بـدلېږي او په دې بهير کې د هګۍ له دننه سپينو او زېړو تغذيه کوي؛ نو د کـوم ځـواک او ميکانيزم پـه توسـه چـې دا چرګـوړی، سره لـه دومـره ضـعيفوالي، د هګـۍ سخت او کلک پوټکی ماتوي او بيرون راوځـي، دې ځـواک تـه «ربّ الفلـق» وايي. «ربّ» يعنې يو ځواک، يو ارباب، يو چلوونکی چې دې ټولو تعاملاتو او فعل او انفعالاتو ته تحقق ببني. ځکه چې دا خو پخپله په خپـل سر داسـې نـه دي شوي، بلکې يو ځواک دی چې هغوی يې په دې بڼـه واړول. دا خـو لـه پيله داسې نه ول؛ نو، څه پېښېږي چې دا ډول ښـکارنده او دا ډول بهيـر بڼـه نيسي او ددې پوټکي له ماتېدو او چاودېدو سره يو ژوند سر را اوچتوي.

د هستۍ ټول جهان همداسې وګڼۍ دا چې قرآن وايي خـدای تعـالی «فَـالِقُ الاِصْبَاحِ» دی. يعنې خدای تعالی د صباح [ګهيځ، سـپيدو] چـاودوونکی دی. شپې لکه هماغه د چرګې د هګۍ د پوټکي په څېر، ځمکه په خپل ځـان کـې نغاړلې ده او ټول ځايونه يې تياره کـړي دي؛ خـو ورو ورو دا د تيـارې پـرده څيرې کېږي، چوی او اړخ ته ځي او هر څيز روښانه کېږي؛ ورځ يو ځل بيـا زېږېږي؛ جهان تازه تولد مومي. نو لکه څنګه چـې ومـو ويـل، خـدای تعـالی «فَالِقُ الاِصْبَاحِ» دی. «اِصباح» يعنې سپېدې. خـدای تعـالی ورځ زېـږوي. يـا چې فرمايي: «فَالِقُ الْحَبِّ وَ النَّوَى» خدای تعالی د دانې او زنې چـاودوونکی دی. لکه د غنم دانه چې پـه ځمکـه کـې دننـه پالـل کېـږي. کـه چـا نـه وي ليدلې، آيا باور به وکړي چې دا وړه دانه به په داسې پياوړي وړي تبديله شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مثلاً اوه سوه دانې حاصل ورکړي. يا مثلاً د بادام له دانې يا زنې څخه ستره ونه چې سېورى کوي رامنځته شي. ښه، نو څوک دانه چوێ او د هغه په دننه کې دا بالقوه ځواک ايږدي او ژوند او حرکت پکې رامنځته کوي؟ فرمايي: «رَبِّ الْفَلَقِ». د يو «رَبّ» ځواک ورته پکار دى، داسې نه ده چې پخپله له ځانه ستر شي او وده وکړي. هو، که په ظاهري سترګه ورته وګورو، وبه وايو چې د طبيعت کار دى؛ د طبيعت په چاپېريال کې دا خيزونه رامنځته کېږي؛ خو قرآن وايي د يو ربوبيت لاس په کار دى چې دا کارونه سمبال کړي؛ د بېلګې په توګه له هګۍ څخه هغه چرګوړى راوباسي او د ټولو تخمونو، ټولو زنو او د ټولو دانو له منځه، ددې خاورينې کرې پر مخ، د يو ځواک، يوې ارادې، انرژي او يوه قدرت له اغېزه دې ټولو ته ځان او حرکت وربښي او ژوند رامنځته کوي.

په «نهج البلاغه» کې، حضرت علي(رض) څلور ځلې دا سوګند ياد کړى چې «وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَ بَرَأَ النَّسَمَةَ» [نهج البلاغه ۳ خطبه]. سوګند پر هغه چې دانه يې وچووله. وَ بَرَأَ النَّسَمَةَ، «نَسَمَةُ» له «نسيم» سره له يوې مادې او رېښې دى. فرمايي په هغه چا سوګند چې د انسان حيات او نفس يې وپنځوه. هاغه څوک چې ټولې تنګې پرانيزي، د ودې او غوړېدا له مخې خنډونه لېرې کوي، او د ژوند له نسيم سره، راحت، سوکالي، ژغورنه، رشد او وده رامنځته کوي؟ د«فلق» سورة غواړي همدا ووايي. غواړي بيان کړي چې جهان «فالق» لري. د خداى تعالى له نومونو څخه يو نوم «فالق» دى. «فالق الأِصباح»، «فالق الحبّ»، «فالق النّوى».

دا د «فلق» او چاودلو کليمه، له کومې چې د پنځګرۍ او خلقت د مفهوم متضمنه ده، په عربي ژبه کې د نوې او تازه طرحې په اچولو کې هم کارول کېږي. حافظ وايي:

بيا تا گل برافشانيم و مى در ساغر اندازيم
فلک را سقف بشکافيم و طرحى نو دراندازيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فلک چوولو او نوې طرحې اچولو ته «فلق» ويل کېږي. البته موخه يې د «چاودون» لغوي معنا نه ده. بلکې تازه ايډيا، بديع فکر، نوې طرحه وړاندې کول او په لاس ورکول دي؛ او همدا «فلق» دی.

نو، مورږ چې کله د خدای تعالی کتاب ختموو او ددې وسلې او پوهې له ځواک سره ژوند ته داخليږو، خدای تعالی ته پناه وړو، ځکه چې اوس پوهېږو چې هغه کولی شي مورږ له ټولو ستونزو، بندونو او خنډونو څخه وژغوري. يوازې هغه زمورږ ربّ دی. نو، «قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ». يعنې پر دې حقيقت باور کول چې د پالونکي څښتن له ستايننومونو او صفتونو څخه يو هم د بندونو او خنډونو او ټولو هاغو ځيزونو لېرې کول دي چې د انسان د ژوند او رشد، ودې او غوړېدا په وړاندې خنډ ګرځي. اوس پوهېږو چې يو ځواک چې پر ټولو ځواکونو اوچت او بر دی د جهان د اداري کار يې په لاس کې دی. دا باور سړي ته ډېر اعتماد او ويسا وربښي؛ په انسان کې ډېر زيات دننی ځواک رامنځته کوي،که هغه هيله من وي چې يو مطلق قدرت او ځواک شتون لري چې کولی شي انسان هغه ته له هر شرّ څخه پناه يوسي او خپلې ستونزې، خنډونه او بنديزونه هغه ته په پناه وړلو کې حل کړي.

په دې سورة کې د هغه له لنډيز سره سره، څلور ځلې د «شرّ» کليمه کارول شوې ده په داسې حال کې چې د قرآن په اوږدو سورتونو کې په هيڅ يو کې هم له دوو ځلو څخه زياته داکليمه نه ده کارول شوې. که پوښتنه مطرح شي چې: د انسان له وجوده خارج له کومو ځيزونو خدای تعالی ته پناه وړو؟ ځواب يې په دې سورة کې ورکړل شوی دی چې؛ له څلورو ځيزونو:

**لومړنی** شرّ چې په ګوته شوی دی هماغه شرّ دی چې کېدی شي د موقعيت او شرايطو پر حساب له هاغو ځيزونو څخه مورږ ته راولاړ شي چې خدای تعالی خلق کړي دي. «قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ. مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».

لومړی د هر هغه ځيز له شره چې هغه پنځولي. [دهر هغه ځيز له شره چې خلق کړي يې دي]. په «مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ» کې د «ما» لفظ، پر عموميت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شموليت دلالت لري، او پر هغه د شر اضافه، او د خلق فعل او د هغه نسبت خالق ته، دې موضوع ته نغوته لري چې شر له مخلوق او د کائناتو د موادو او ځواکونو له ترکيب او ګډونوالي راولاړېږي، نه د امر له عالمه او نه د خالق له فاعلي ارادې څخه. يعنې د خدای تعالی په تخليق کې هيڅ څيز د شر لپاره نه دی خلق شوی، بلکې دا شرونه يوازې پر مورږ مخلوق پورې تړاو لري او له مختلفو پېښو څخه د انسان د موندنو او لاسته راوړنو او د هغه په ليد او اند پورې اړوند دي او پخپله کوم مستقل عيني وجود نلري.

لکه څنګه چې پورته مو ورته اشاره وکړه؛ که پوښتنه وشي چې آيا خدای تعالی شرّ هم خلق کوي؟ ځکه چې خدای تعالی خو په خپلو پنځونو کې شر نلري. دا هر څه چې دي د هغه مخلوق دی او د هغه مخلوق هم له خير پرته نور څه نه دی. په ځواب کې بايد وويل شي چې شرّ يو نسبي چار دی. لکه څنګه چې مخکې مو ورته نغوته کړې؛ د بېلګې په توګه لېوه د پسه لپاره شرّ دی، او ستر شرّ هم دی، خو آيا د هستۍ په عالم کې پخپله نفساً او واقعاً هم شرّ دی؟ نه. خدای تعالی د هغه لپاره هم، لکه د بل هر موجود په څېر، په جهان کې يو نقش ټاکلی دی. په دنيا کې ټول موجودات له يو بله تغذيه کوي. په دنيا کې ټول يو بل خوري. په اوبو، وچه او هوا کې په هر ځای کې همدا ډول دی. د هر موجود لپاره يو دښمن شته چې د هغه لپاره شر دی. خو په ټوله کې، دا ټول اړين دي، او له يو پراخ ليد سره که ورته کتنه او پاملرنه وشي، هغوی ټول خير دی. ټول کائنات لګيا دي خپل نقش او رول لوبوي، نو هغوی ټول اړين دي او خير دی. او هر يو موجود د چاپېريال د تعادل لپاره اړين دی. امتحان د شاګرد لپاره بد او شرّ دی؛ خو که د ارتقاء او تکامل له ليده ورته وليدل شي وينو چې خير دی.که مصيبتونه له يوه ليده شرّ دی، خو له يو بل ليده خير ګڼل کېږي. د مولوي په وينا:

عاشقم بر قهر و بر لطفش به جِدّ

ای عجب من عاشق اين هر دو ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر دواړه، هم قهر او هم لطف يې، خير دی. يعنې له يـو ليـد او منظـره ټـول يې هر څه يې خير دی. قهر يې هم او لطف يې هم خيـر دی. او پـه جهـان کې مجرد ښه والی او شرّ شتون نلري، دا ټول نسبي دي. که جهان ته لـه دې منظره ووينو، هيڅ څيـز شر نـه دی. شر نسـبي دی او مطلـق نـه دی. تاسـو د بېلګې په توګه زلزلې او سيلاو ته او ټولو دې طبيعي آفتونو ته لـه بلـې زاويـې ووينئ، وينئ چې دا ټول په واقعيت کې مثبت اړخونه هـم لـري. کـه انسان هراړخيزليدی وي، دا ظاهري شرونه نه وينـي، تـر ټولـو مهـم ددې حقيقـت پوهېدل دي. په واقعيت کې، کوم شرونـه چـې پـه جهـان کـې شـتون لـري عارضي دي او له ځينو ښکارندو راولاړېږي چې نشي کېدی هغـوی پـه خپـل ذات کې شر وګڼل شي. د بېلګې په توګه د مار لشـه شر نـه دی، بلکـې د هغـه دفاعي وسيله ده؛ خو موږ غواړو – او اړين هم دي – چـې د هغـه لـه شره پـه امان کې اوسو. موږ ته پکار نه دي چې مثلاً پښه پـرې کېـږدو؛ او دا اړينـه ده چې احتياط وکړو او د هغه يا د هر خطرناک او داړونکي حيـوان شر مـوږ تـه ونرسېږي. نو داسې نه دی چې د مار ذات دې پخپله شر وي، بلکه مار هـم د الله تعالی د مخلوق په توګه په طبيت کې خپل نقش او رول لوبوي.

يو شمېر ډېر څيزونه په دې جهان کې شتون لري چې د هغـوی لـه شره بايـد خدای تعالی ته پناه يوسو. زرګونه پېښې شوني دي انسان ته واقع شي: له يـو ځايه تيرېږي، نـابېره يوه ډبره له دېواله راپرېـوځي او د هغـه سر مـاتوي. خـو داسې نه ده چې هرومرو د ډبرې ذات شرّ دی. يا کېـدی شي پـه ټولنـه کـې ځينې پېښې داسې واقع شي چې په نسبي توګـه شرّ وګڼـل شي، پرتـه لـه دې چې د هغوی اصل او اساس شرّ وي. تاسو وينئ چې دا د جاذبې ځواک هـم کېدی شي د ځينو لپاره شرّ وي؛ دا شونی دی چې يو څوک د بې احتيـاطۍ له اغېزه له بامه پرېوځي او مړ شي. نو د ځمکـې جاذبـه هـم د هاغـه پريـوتي کس لپاره يو شرّ دی. خو آيا جاذبه نفساً شر دی ؟ نه. خو دلته د انسان د بـې احتياطۍ له امله شرّ شو. نو، هر څيز کېدی شي زموږ لپاره شرّ وي، نـو ځکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې تېولو خیزونو له شره پالونکي څښتن ته پناه ورو. دا یوه لړۍ له شرونو وه چې وویل شوه، په دې لړ کې ډېر مثالونه نور هم ورکول کېدی شي.

خو که انسان وده وکړي، خپل ځان اوچت کړي او د خپل پالونکي څښتن د ځواک حریم ته خپل ځان ورسوي او پر هغه ایمان راوړي او د رب په درشل کې پناه واخلي او له ربوبي لید سره د جهان پیښو او ښکارندو ته ووینی، د هاغه څه له مخامخ کېدو څخه چې شر برېښي، امنیت مومي او د هر شرّ په پېښه کې د یو خیر ننداره یا د خیر سریزه ویني او له پراخ لید او د هاغې ارادې له ځواک سره چې د رب په حریم کې یې تر پناه اخېستلو وروسته مومي، کولی شي چې د هرې پېښې مخه د خېر او لوړو مقصدونو لور ته وګرځوي او د پېښو د څپو پر سر د خیر د ساحل پر لور مخکې لاړ شي. او ددې پر عکس، یوازې او بې پناه وګړي چې خپل ځانونه یې د پالونکي څښتن له حریمه اخوا کړي او د پېښو په منځ او دننه کې واقع شوي، د پېښو او ښکارندو هره څپه چې د پنځګرۍ له ګریوانه سر راوباسي [«منفلق شي»] شر برېښي او د خپل شرارت په لارلیک کې مخکې ځي. نو ورپسې د استعارې او تمثیل په توګه د تپل شوې او نغاړونکې تیارې له شره یادونه کوي چې د هیلو او امیدونو د رڼا او نور، تولې کړکې پټوي او پر خلکو او چاپیریال په مطلقه او بشپړه توګه تسلط مومي. په قرآن کې «غسق اللیل» د «دلوک الشمس» پر وړاندې ځای پر ځای شوی دی چې لومړنی د تیاره خوکه او د شپې برلاسی، له لمر څخه د ځمکې د هرې نقطې په لېرې ترین واټن کې [نیمه شپه]، او دویمی د رڼا خوکه او د ورځې برلاسی له لمر څخه په ډېر نژدې واټن کې [شرعي ظهر] څرګندوي او هیښوونکې دا چې په دې دواړو ښکارندو کې چې ظاهراً متضادې دي، «فجر» یې [د فلق په څېر] معرفي کړی دی: «أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا» [اسراء۷۸(۱۷:۷۸)]، د ظلم او ځور نظامونه چې لکه د شپې د تیاره پردې په څېر، د الهي وګړو د عمل او ایمان د نور په نه شتون

او چوپتیا کې، پر ټولنو غالب او برلاسي کېږي، دوی هاغه «غاسقان» دي چې د خپل ظلم منګولې د خدای تعالی په بندګانو کې خښوي [اذا وقب]، خو که د مؤمنانو په زړونو کې د ربوبي «فلق» او «فجر» ختلو ته هیلي ژوندۍ وي، د هغه د ربوبیت حریم ته له پناه وړلو سره کولی شي خپله تیاره شپه صبح صادق ته ورسوي، او د ګهیځ د نور په راتلو خپل ځان له تیارو او ظلمت له منګلو وژغوري، او د ظالمانو ظلمت او تیاره په رڼا تبدیله کړي.

په دې سورة کې یې چې لومړی مطلق شر ذکر کړی، او ورپسې یې په ځانګړې توګه له «غاسق شر» څخه یادونه کړې ده، او دا پخپله له عام شر وروسته د خاص شر د ذکر له بابه دی، چې د خاص شر په نسبت ډېر اهتمام ورسوي، په دې سورة کې د عام شر له ذکر وروسته، په ځانګړې توګه دریو شرونو ته اهتمام شوی: یو د شپې شر دی چې کله پوره داخله او خپره شي. او دویم د ساحرانو شر او دریم د حاسد شر، چې کله په توطئه بوختېږي. او د شرونو ددې دریواړو ډولونو په نسبت ډېر اهتمام له دې لامله شوی دی چې انسان له دې درې واړو شرونو څخه غافل دی، یعنې دا درې واړه شرونه د غفلت په حالت کې پر انسان یرغل کوي.

نو د عمومي شرّ له ذکر څخه وروسته له [غاسق شر] څخه یادونه شوې ده: «قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ. مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. وَ مِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ.». او د شپې له شره په هغه مهال کې چې په بشپړه توګه ورسېږي [او جهان تر خپلې تیاره لاندې نیسي]. «غَاسِقٍ»: تیاره شپه. «وَقَبَ»: راورسېد او پوره یې وپوښه.

نو دویم شرّ، «غاسق» شرّ دی. «غاسق» شپې او نغاړونکې تیاره ته ویل کېږي. یعنې «غاسق» د شپې د تیاره د شدت په معنا دی، چې په نیمه شپه کې تیاره دې پراو ته رسېږي. په قرآن کې یې په ځلونو شپې ته د «غاسق» صفت ورکړی دی، «غَسَقِ اللَّيْلِ». د شپې پیل غاسق نه دی؛ خو کله چې درې څلور ساعته له شپې تېر شول او هوا په بشپړه توګه تیاره شوه او ترورمې او تیاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېول ځايونه و نغاړل، هغې ته وايي؛ «غَسَقِ الّيْلِ». د (ظهر) [ماسپښين] نمونځ هاغه مهال اداء کړه چې لمر د آسمان په منځ کې دی. تر غَسَقِ اللّيْلِ يعنې د (عشاء) [ماسخوتن] نمونځ هم په هاغه مهال کې چې شپه په بشپړه توګه برلاسې او واکمنه ده. په عربي ژبه کې هر حيوان چې پر بل حيوان برلاسی وي، مثلاً عقاب چې کوتره يې په منګولو کې نيولې، يا په عمومي او تېوليزه توګه پر هر څيز چې بشپړ مسلط، برلاسی او واکمن شي، «غاسق» اطلاق کېږي. د «غَاسِق» فاعل اسم، نکره ذکر کېدل، د نامحسوسو او غير مادّي مفهومونو په انتقال کې، د ژوندانه د روزمره چارو لپاره د ابداع شوو کليمو او ژبې د ظرف د تنګوالي او له محدودو او ټاکلو معينو مصاديقو څخه د هغه د عاموالي او پراختروالي نښه ده. د «غاسق» مشتقونه د «غَسَقَ» له ريښې درې ځلې په قرآن کې راغلي دي چې د هغوی په نظر کې نيولو سره کولی شو کولی شو غوره او بشپړه نتيجه واخلو. لومړی ځای چې پورته مو ورته هم نغوته کړې؛ د ورځې د رڼا لوړتيا [څاښت]، د شپې د تياره د لوړتيا [د عشاء د نمونځ د مهال] پر وړاندې راغلی دی: ــ «أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ...» [اسراء ۷۸ (۱۷:۷۸)]

دوه نور موردونه چې د غاسق مشتقونه ذکر شوي دي د هاغو سوځوونکو، تېينګو او ناولو اوبو په اړه دي چې دوزخ وال يې څښې. په دې موردونو کې هم د تېينګوالي، نغښتوالي، تياره او تتوالي مفهوم پکې په واضحه توګه څرګند دی: «لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا. إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا». [نبأ۲۴(۷۸:۲۴)] او هم «هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ» [ص۵۷ (۳۸:۵۷)].

خپره تياره يو انځور دی د راز راز مجازي او تکو تورو ظلماتي تيارو څخه لکه: شرک، کفر، جهل، ځور، خشم، حرص او طمع او د نفس هوا او نورې غوښتنې، چې پيغمبرانو دنده درلوده خلک الهي هدايت ته د نور پر لور رهبري کړي. [بقره۲۵۷(۲:۲۵۷)، مائده۱٦(۵:۱٦)، ابراهيم۱(۱۴:۱) او ۵(۱۴:۵)، احزاب۳۳(۳۳:۳۳)، حديد۹(۵۷:۹)، طلاق۱۱(٦۵:۱۱)].

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَقَب» [د شفق پر وزن] د «وَقْبْ» له مادې د کندې او ګودال په معنا دی، بيا يې فعل په ګودال کې د ورود او ننوتو په معنا کارول شوی دی، ګواکې شرير او زيان رسوونکې موجودات د شپې له تياره استفاده کوي، او د زيانبارو او ډارووونکو کندو په رامنځته کولو سره، د خپلو ناولو او پليدو موخو د تحقق لپاره پيل کوي. نو پر دې بنا تر بحث لاندې آيت کې د «غاسق» معنا يا «يرغلګر وګړی» دی، يا هر «شرير موجود» چې د شپې له تياره څخه د يرغل کولو لپاره استفاده کوي، ځکه نه يوازې داړونکې او چيچونکې حيوانات د شپې پر مهال له ځالو بيرون راوځي او زيان رسوي، بلکې شرير، ناپاک او پليد وګړي هم، ډېری يې د شپې له تياره څخه د خپلو ناسمو او بدو مقصدونو او موخو لپاره استفاده کوي. نو زه پناه وړم «مِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ.» د هر هغه څيز له شره چې برلاسی او مسلط شي. او دا په حقيقت کې يوه عمومي او ټوليزه مسئله ده. د «غَاسِقٍ» نکره راتلل او د «إِذَا وَقَبَ» قيد او ظرف، په هر ډول تپل شوي، پنډه او نغاړونکې تياره کې شاملېږي چې ټول چاپېريال او د نور د ځلا ډګر ډک کړي او د رڼا او نور هره دريڅه بنده کړي.

د «إِذَا وَقَبَ» وصف د تياره داخلېدل او برلاسی دی چې د نور او رڼا د هرې دريڅې بندېدل دي. «وقوب» په لغت کې د ننوتو معنا لري؛ په تيره کې سوړې ته هم چې اوبه پکې ننوزي «وقبه» ويل کېږي. دا ددې کليمې اصلي معنا ده، خو په مجازي حالتونو کې، د انسان پر عقل او ايمان د هغه د نفساني تيارو برلاسی، يا پر ټولنه د ظلم او ځور او جهل تسلط د «غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ» له مصاديقو ګڼل کېږي. د دې ډول «غاسق» لواړه او محسوسه بېلګه، د تروږمې شپې تياره ده چې په هغې کې غله، داړه ماران، او ځناور، ناسمې انګېزنې، او د ځمکې لاندې له پټنځايونو څخه بورنوړې او سونځ خيالونه او وهمونه، د پرګنو په منځ کې سر راوباسي، بريد، يرغل او داړل کوي. او که په دې آية شريف کې يې د شر نسبت له شپې سره کړی دی له دې لامله دی چې شپه له خپلې تيارې سره، د شر په رسولو کې له شرير سره، مرسته کوي، او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې جهته وینو چې کوم شرونه چې په شپې کې پېښيږي لـه هـاغو شرونـو څخه ډېر زيات او ډېر خطرناک دي، چې په ورځ کې واقع کېږي. سربېره پـر دې، کوم انسان چې د شرونو تر یرغل لاندې راځي، په شپې کـې لـه ورځـې څه ډېر زيات ناتوانه او بې وسې دی. او يا په بل عبارت ویلـی شـو چـې د شر په مقابل کې د انسان بشپړه ناتواني له «غاسق» څخه يـو تمثيـل دی، چـې پـه دې حالت کې شرّ پر انسان بشپړ واکمن کېږي.

لکه څنګه چـې مـو ورتـه اشاره کـړې: د کفـر، جهـل، هـوا، خشم او شـهوت نغاړونکي تیارې د «غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ» نور مثالونه دي چې د هغوی شر د انسان له نفس او د هغه له دننه دی، او لـه هـر بـل شره خطرنـاک دی. چـې پـه دې توسه د انسان د وجود چاپیریال د هغه له خپل دننني شره ډکېږي.

تاسو کولی شئ " غاسق" يو استبدادي او ديکتاتوري سياسي نظام وګڼئ چې د برچې په زور يـې واک ترلاسـه کـړی، او پـه ټولنـه کـې يـې د وګـړو د ساه اخیستلو لپاره هیڅ ځای نه دی پرېښی، او له خلکو څخـه يـې ټولـه آزادي او امنيت اخيستی دی. يا تاسو کولی شئ د " غاسق " اصطلاح د هاغـه قلـدر او ځورونکي په معنا واخلئ چې پر يـو شـمېر کسانو برلاسـی لـري او پـر هغـوی واکمني کوي. هر هغه څیز چې په هره دوره يا هر وخت کې پر تاسو واکمـن شوي وي او ټولې لارې يـې تړلـې وي، کـه هغـه پـه کورنيـو چـارو کـې وي، سیاست کې وي، ټولنه کې وي يا مالي چارو کـې وي، پـه داسـې ډول چـې څرګنده شي نوره د تېښتي او ژغورنې لار او د نجات دريڅه پاتې شوې نـه ده د «غاسق» مصداق ګڼل کېږي. «غاسق إذا وقب».

د بعثت په پيل کې، چـې د بـت نمـانځنې نظـام واکمـن دی او مسـلمانانو تـه شکنجه او ځور ورکوي او هغـوی وژني، پـر مسـلمانانو يـې هـر ډول بنديزونـه لګولي دي. ځینې له هغوی حبشې ته مهاجرت کوي. وروسته هم، په دیارلسم کال، پیغمبر د شپې په تیاره کې له هاغه ښاره هجرت کوي چـې خپـل ځـان وژغوري. نو، يوه نغاړونکې او خپره تياره شپه ده. «غاسق إذا وقب».

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې؛ ظلم [ستم] او ظلمت [تياره] له يوې ريښې دي؛ د استعارې په مقام کې هم، دا د شپې اصطلاح د استبدادي نظامونو د ظلم او ستم د بيان لپاره، چرته چې ناشوني وي د هغه په اړه په صراحت خبره وشي، په سياسي ادبياتو کې ډېره زياته کارول کېږي:

په دې ځمکه هره شپه له دې آسمانه، يو يو ستورى وژل کېږي.

او د ستورو دا باران له دې آسمانه، له ځنډ پرته را اورېږي.

کوم شعرونه چې د انقلابونو په بهير کې ويل کېږي، وينو چې شاعر کله چې نشي کولى خپله خبره ښکاره وکړي، د استعارې او رمز په قالب کې يې شعرونه ويلي دي. د «شپې» کليمه، په فرهنګونو کې، پر يو ډول فشار، تنګۍ او خپګان دلالت کوي. چون ظلمت او ظلم له يوې ريښې دي؛ ظلمت يعنې تياره او ظلم هم يعنې ستم او ځور چې انساني جهان تياره کوي. پر دې بنا، خداى تعالى ته پناه وړل د هر ډول ستمګرۍ له شره، يا له هر هغه ځيزه چې د انسان پر مخ تېولې لارې وتړي. خداى تعالى ته پناه وړو، له ټولو موهومو عقيدو، فضاګانو او فکرونو او ټولو هاغو ځيزونو چې له وهم او خيالونو پرته نور څه نه دي او له حقيقته هيڅ اثر نه لري. خداى تعالى ته پناه وړو له هر حسادته او له هر بل شره چې په جهان کې دي.

دريم شرّ کوم دى؟ له بل څه څخه بايد خداى تعالى ته پناه يوړل شي؟

وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ. او د هاغو کسانو له شره چې په غوټو کې پوکى کوي [او په خپل مکر، چم، ټګۍ او حيله ګرۍ ـ ارادې، ايمانونه، عقيدې، محبتونه، پيوندونه او تړاوونه سستوي او فساد او تباهي رامنځته کوي]. «النَّفَّاثَاتِ»: د نَفَّاثَه جمع، پُوکوونکي. «نَفَّاثات» د «نَفْث» له مادې [د حبس پر وزن] په اصل کې، د خولې د يو لږ مقدار لاړو اچولو په معنا دى، او له کومې چې دا کار له پُو کولو سره سر ته رسېږي، «نفث» د «نفخ» [پُو کولو] په معنا هم راغلى دى. چې مقصد ترې فسادپيشه چغلګر او سخن چينان دي. د مبالغې صيغه ده او د نرينه او ښځينه دواړو لپاره کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له غوټو [عُقَد] څخه مطلب ظاهراً هماغه د ستونزو، مشکلاتو او اختلافونو غوټه ده چې د ښځې او مېړه يا خلکو تر منځ له يو بل سره مخې ته راځي او ځنې کسان د هغوی د پرانېستلو او په ټولنه کې د سولې او پخلاينې د رامنځته کولو پر ځای د هغوی اور ته په پُوکي ورکولو د هغوی په تازه کولو هغه «شعله ور» کوي او د غوټو د ړندولو په توسه دښمنۍ لا ژوروي. نو «الْعُقَدِ»: چې مقصد يې د انسانانو پيوندونه او تړاوونه دي؛ لکه د ښځې او نر د ګډ ژوند تړاو، د دوستۍ او خپلوۍ رابطه، مکتبي او عقيدتي اړيکه.

په غوټو کې پُوکول، له سحر او جادو څخه کنايه ده؛ ساحرانو به تارونو ته غوټې اچولې او د خپلې خولې يو مقدار لاړې به يې په غوټو پورې مښلې او پر هغوی به يې پُوکي کول، او بيا به يې ګنډې پرانېستلې، چې عامو خلکو ته ښکاره کړي چې د پلانکي نارينه او پلانکۍ ښځې د ګډ ژوند د تړاو غوټه يې بېرته کړې او هغوی دواړه يې يو له بله بېل کړي دي. چغلګران او نمّامان هم خپل ځانونه د زړه سواندو او مينه والو په لباس کې دلته او هلته ښکاره کوي او په دې وسيله تړاوونه خام او سستوي، او د خلکو تر منځ واټنونه رامنځته کوي. نو پر دې بنا د ساحرانو او چغلګرانو کار يو بل ته ورته دی.

نو د جادوګرو ساحرانو له شره، له الله پناه غوښتل دي چې په عقدو او غوټو کې پُوکی کوي. ددې آيت دا تعبير - النَّفَّاثَاتِ - فِي الْعُقَدِ او د «اعوذ» فعل چې «عوذ» او «تعويذ» د هغه له مشتقاتو څخه دي، ذهنونه د ښځو جادوګرانه کارونو ته متوجه کوي، په ځانګړي توګه په هاغه زمانه کې او د جاهليت د خلکو په منځ کې چې جادوګري او کهانت او په مَرَيُّو، ډبرو او لرګو او تعويذونو به يې ځينې عملونه د جادو د باطلولو لپاره کول، او ډېر رواج يې درلود. او دلته سره ددې چې په مؤنث بڼه راغلی او ورسره مو دا هم وويل چې په تېرو وختونو کې په دې مسير کې ښځې ډېرې مصروفې وې چې په مؤنث بڼه د راتلو يو لامل يې دا هم کېدی شي، خو له دې څخه په ټوله کې د ښځينه مراد نېول اړين نه دي. د عربيّت د قاعدې له مخې تاسو ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبيثه ارواح او خبيثه نفسونه مراد نيولی شئ؛ په عامه توګه که هغه ښځينه وي يا نرينه، او له دې هم صرفنظر چې اشاره يې د يهوديانو او مجوسيانو لور ته وي يا د عربو ساحرانو او کاهنانو لور ته؛ هغوی چې په غوټو، ګنډو او عُقدو کې د پُو کولو دا طريقه او د تونو او تونټکو عمل کول اختياروي، او هغوی چې پر تارونو عمل کوي او له خپل خيال سره سم څه لولي او پرې پُو کوي او ګنډې ورته اچوي او د هغوی له انګېرنې سره سم په دې ډول لومړی يو ځوک د هغوی په لومه کې نښلي او بيا هغه ته کوم اذيت او ځور چې رسول غواړي د رسولو کوښښ کوي. له دې صفت څخه د هغوی د ذکرولو څخه مقصد د هغوی د مکر او فريب د انځور ايستل دي. دا هاغسې يو تصوير دی په کوم ډول چې د شعراء په سورة کې د کاهنانو د مراقبې انځور کښل شوی دی: «يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ» [شعراء۲۲۳(۲٦:۲۲۳)]. «او هغوی غوږ نيولي ناست دي او په هغوی کې ډېری يې دروغجن دي.» او زموږ له ليده له دې څخه مطلب د هاغه څيز د لغوه کولو او ردولو لور ته اشاره کول دي.

دا چې دا ټيټ او سِفليه کړنې او عملونه تر کومه بريده اغېزناک دي يا نه دي د بقره سورة په ۱۰۲ آيت کې د هاروت او ماروت له کيسې سره مل ځرګند شوی دی. او زموږ له نظره ډېره برخه يې لکه څنګه چې پورته د شعراء سورة پورې اړوند آيت څخه معلومېږي تش دوکه او فريب دی خو که په هغه کې که لږ کوم حقيت هم شته نو قرآن تصريح کړی چې په مستقله توګه بالذّات اغېزمن نه دي، که له هغه د کوم ضرر د رسولو اټکل هم کېږي نو د الله په اذن يې رسولی شي لکه څنګه چې د سِحر او سِفليه عملونو په اړه يې فرمايلي: «...وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ...» [بقره۱۰۲(۲:۱۰۲)]. «...او هغه ددې په توسه هيچا ته ضرر رسوونکی نشي کېدی مګر د الله په اذن...» نو چون له هغوی څخه کوم ضرر د الله له اذن پرته، د ضرر رسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکان يې نشته ، نو له دې ښکاري چې د هغوی له شره د بچ کېدو لپاره هم له الله پرته بل چا ته د پناه اخېستلو اړتيا نه پاتې کېږي.

ويل کيږي چې د نفاسات مؤنث ذکريدل د کوډګرو ښځو د حضور او د هاغې واقعيت له لامله دی چې د جاهليت وګړو د ښځې مېره په اختلاف يا بد خوندو پېښو کې د هغوی تومنکو، طاس، طلسم او روحي تلقيناتو ته پناه وړله، په دې بڼه کې د «عُقَد» معنا د روزګار غوټې او بنديزونه ګڼل کېږي؛ خو اوس هم زموږ په روزګار کې ساده لوحي خلک د خپل ژوند د ناسميو د غوټو خلاصولو لپاره، د کار او زحمت او هڅو او پر «ربّ الفلق» خدای د توکل پر ځای، د جمکران په څاه کې په عريضو اچولو، د «اعتصام بحبل الله» پر ځای، پر ضريح او قبر د قفلونو تړلو، د خدای تعالی د اولياء د الګو نيولو او د هغوی له توحيد څخه د پليونې پر ځای، له طلا او نقرې او هندارو او مرمرو له ډېرو سره د هغوی د قبرونو په سينګارولو او له خپله ځانه بڼلو موهوماتو ته ترغيب کوي؟ او د پير او مير په لمنو پورې ځانونه نښلوي او دم او تعويذ او تومنکې ترې اخلي. همدوی زموږ په روزګار کې «نَـفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ» دي.

خو که عُقَد، ايماني او عقيدتي غوټې وګڼو، د ځينو ښځو نقش ته يا د هغوی د جاذبې لېوالتيا ته، د جدي هوډ او تصميمونو او ارادو په سستېدو کې، يوه لطيفه استعاره ای تشبيه ده. په قرآن کې يې هم د ابی لهب د مېرمنې له اور راوړنې څخه په هاغه فتنه کې چې رامنځته کړې يې وه، يادونه کړې ده [د تبّت سورة]. په هر حال کې دا مشابه تعبير هر ډول شبهه انګيز تبليغ او تلقين نغاړي. عزم او اراده او قصد او همتونه د داسې لاملونو په توسه سستېږي چې د ورځې د تصميمونو په هېرولو کې د شپې له نقش سره د تشبيه وړ وي.

«دا پخه خبره د خبرو د استاد، حضرت علي(ع) ده: «عزيمه او وليمه [جدّی کار او د توري ليکي والا آس خرونه] له يو بل سره نه يو ځای کېږي او ډېر داسې چې نُوم [خوب] د يُوم عزم له زړه وباسي او تياره چې د همّت وېښتيا محو کوي» [۲۴۱ خطبه]»

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا د الله تعالی سنت دي خلک چې خپل ذهن څنګه جوړوي له هغه سره هماغسې معامله کېږي. يو سړی که خپله اړيکه له خپله رب سره ټينګوي؛ له پوچو وهمونو څخه خپل ځان بچ کوي، د خدای تعالی له ياد سره خپل زړه ودان ساتي، که کومه لوړه ژوره يې هم مخې ته راځي نو په هغه کې د لارښوونې او مرستې لپاره د خپل رب لور ته متوجه کېږي نو الله تعالی پر داسې شخص شيطان نه برلاسی کوي – او که تصادفاً له کومې ناپاکۍ له اغېز سره مخامخ کېږي نو د الله پر لور پاملرنه يې د هغه له شره بچ کوي.

ددې پر عکس که کوم شخص بالکل منفعل مزاجه او وهمي وي، له عقل او بصيرت څخه د کار اخېستلو پر ځای په وسوسو کې اخته وي، پر الله د کلک باور ساتلو پر ځای د خپل زړه دړه شکونو او شبهاتو ته پرانيزي نو دا ډول انسان په عمومي توګه د جني او انسي، شيطانانو په لاسونو کې پرېوځي او شيطان پرې برلاسی کېږي او هغه هرې لور ته چې غواړي، کشوي او ځغلوي. له دې سرګردانۍ څخه د خلاصون يوازينۍ طريقه په دې سورة کې ويل شوې چې سړی دې تل خپل ځان د خپل رب په پناه کې وساتي، که کله په زړه کې کومه دغدغه، ويره او ډار محسوس کړي سمدلاسه دې د هغه امان طلب کړي چې بهترينه ذريعه يې د معوذتين دواړه سورتونه دي.

چون د «قُل» له امر سره پخپله حضرت رسول اکرم(ص) مأمور وو دا توهم رامنځته شوی وو چې پر حضرت رسول(ص) جادو شوی دی. او ددې توهم د تأييد لپاره ځينې روايتونه هم نقل شوي دي چې پر هغه حضرت يې څو ورځې د جادوګرانو د کار سحر ځرګند کړی دی. په داسې حال کې چې دا ډول توهمات د نبوت د مقام او عصمت او د حضرت رسول اکرم(ص) د قطعي سيرت منافي دي، ځکه چې: لومړی – که هغه حضرت(ص) د جادوګرانو تر تأثير او د هغوی تر تصرفاتو او روحي تلقينونو لاندې راتله. له جسمي نقص او روحي او خلقي انحراف سره به دوڅار کېده چې له دې سره د وحی او رسالت بنسټ او تکيه ځای بې پايه او سستېده. د پيغمبر اکرم(ص) روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاريخ څرګندوي چې د وړوکتوب له پيله د ژوند تر پايه، اندونه او يادونه او عملونه يې تر مراقبت او څارنې لاندې د عصمت په قلعه کې دننه دي. او د سِحر او جادو اروايي اغېز، نبايد د بدني اغېز په څېر وګڼل شي. او که سِحر او کهانت د هاغه حضرت پر روح آغېز کاوه، هاغه ټول کاهنان او ساحران چې په عربستان او شاوخوا کې ول او له هاغو ټولو دښمنيو او مقاومتونو سره به يې، د هاغه حضرت په روح کې تصرف کاوه چې د هغه د نبوت او رسالت له ابلاغ او اعلامه مخنيوی وکړي. دويم دا چې؛ په «..فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ..» [مائده٦٧(٦٧:٥)] آيت کې هغه حضرت ته وعده وکړل شوې ده چې له هر مصيبت، درد او رنځه به يې ساتي. او په لاندينيو آيتونو کې: «... إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا» [اسراء ٤٧(١٧:٤٧)]. «انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا» [فرقان٩(٢٥:٩)]، ددې وينا نسبت يې ظالمينو ته ورکړی دی، چې ګواکې پيغمبر مسحور شوی دی او هغه يې د نبوت په اړه د لار ورکي او هېښتيا لامل ګڼلی دی. او په «...وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى» [طه٦٩ (٢٠:٦٩)] او همدا راز په «...وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ..» [بقره١٠٢(٢:١٠٢)] آيتونو کې د ساحر برياليتوب له هر لورې يې چې مخه کړې... او د ساحرانو زيان رسَول يې، د ا لله له اذن پرته نفي کړي دی. دريم داچې: کوم داستان چې په دې اړه په روايتونو کې ذکر شوی دی پخپله د ډېرو نورو روايتونو له مخې رد شوی دی او سندونه يې د اعتبار وړ نه دي ګڼل شوي او بنايي د همدغه داستان له وړاندې کولو وروسته دا سورة مدني ګڼل شوی وي په داسې حال کې چې ددې سورة له متن او د آيتونو له طرز او طريقې ښخه څرګنديږي چې دا سورة مکي دی.

سربېره پر دې بنايي پاملرنه ولرو: ددې آيتونو د شأن نزول ښخه په صرفنظر کولو چې ورته يې تورلی دی، په آيت کې هيڅ څرک نه برېښي چې مقصد يې په خاصه توګه د ساحرانو سحر وي، او که فرضاً آيت داسې تفسير هم کړو، د هاغه شأن نزول پر صحت دلالت نه کوي، بلکې يوازې پر دې دلالت کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پيغمبر اکرم(ص) د ساحرانو له شره پـالونکي ښتن تـه پناه وړي، سـمدم ددې په خبر چې روغ او صحتمند وګړي د سرطان له ناروغۍ څخه پـالونکي ښتن ته پناه وړي، که څه هم هيڅکله پرې اخته شوي نه وي.

د هغو کسانو له شرّ څخه چې په غوټو کې پُوکي کوي، دا يوه اصطلاح ده. په ياد ولرئ چې هر څه په خپل وخت کې معنا لري. د رسول الله «صلی الله عليه وسلم» په وخت کې او له هغه څخه مخکې، د بشـري تـاريخ پـه اوږدو کـې، جادو عام وو، او لـه رمـل او اسـطرلاب سره وړانــدوينه او کهانـت او طلسـم او جادو او ددې په څېر نورې کړنې دود وې. خلکو د دې لارو چارو له لارې د خپلو ستونزو لپاره حل لارې لټولې. د بېلګې په توګـه، کـه چيـرې د ميـړه او ميرمنې ترمنځ اختلاف او شخړه راتله، نـو دوی بـه د شـخړې د حـل لپـاره لـه کوډو او موهومو عملونو څخـه کـار اخيسـته، هغـوی بـه د جـادو، منترونـو او طلسم په ليکلو سره غوښتل خپلې ستونزې حل کـړي، او هغـه بـه يـې پـه يـو ځای پورې تړل، يا يې په څاه کې اچول، او داسې نورو ډېرو شيانو تـه يـې مخه کوله. په قرآن کې کې ددې موضوع په اړه د فرعون د زمـانې سـاحرانو ته په لاندې ډول اشاره شوې ده او د هغه اغېز يې د الله له اذن پرته رد کړی دی «...فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِـهِ مِـنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ...» [بقره۱۰۲(۲:۱۰۲)].

يا که دوی غوښتل چې غوټې خلاصې کـړي ["عُقـد" د "عَقـد" جمـع دی او عَقد د غوټې معنی لري، لکه د واده عَقد «تړون» يا د قرارداد عقد] او بـل هـر څيز چې غوټه خوري، په لنډه توګه، د هغوی د خلاصولو او هـم د پرانيسـتلو لپاره به يې، جادو او طلسم ته مخه کولـه. په هر حالت کې د ستونزو حـل لار يې، په ځانګړې توګه په تيرو وختونو کې، په غوټو کې په پُـو کولـو او جـادو، منترونو او رمل او اسطرلاب ليدلو کې ګڼلې. همدا اوس هم چـې همـدا اوس دی وينئ چې لږو ډېر پـه همـدې ډول دی. همـدا اوس هـم پـه ډېريـو پـه اصطلاح اسلامي ټولنو کې د تعويذونو، کـوډو او جـادو بـازار ښـه ګـرم دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره رونق لري. کله چې يو شمېر خلک داسې وانګيري چې د ستونزو چاره يې داده چې في المثل يوه عريضه وليکي او سر يې بند کړي او هغه په څاه کې واچوي، د جمکران په څاه کې يې واچوي، نو دا څرګندوي چې اوس هم النفاسات في العقد شتون لري. تاسو به ليدلي وي چې د پيرانو او مرشدانو پر قبرونو دخلکو ستر جمعيتونه راټول وي او د درشل خاورې يې په سترګو پورې مږي او په دې توګه د خپلو ستونزو چاره ترې غواړي. دا خو لا څه چې ډېرى د سپوږمۍ د کرې تور داغونه داسې انګيري چې دا يې د کوم امام انځور دى او د سپوږمۍ پر لور د التجاء لاسونه اوچتوي. دا خو لا څه چې په ټولنيزو رسنيو کې به مو ليدلي وي، د کوم چا د کور په ديوال د ناوې لاندې نم چې د انسان سر ته ورته کوم انځور يې جوړ کړى وو کوم لاروي وويل دا خو د حضرت عباس انځور ته ورته دى، ستر جمعيت ديوال ته مخامخ راټول شوى او هر يو خپل ځان او جامې ديوال پورې مږلې او له حضرت عباسه يې د خپلو ستونزو حل غوښته، ځينو خپل مريض بچيان راوړي وو چې له حضرت عباسه د هغوى د بيمارۍ شفا وغواړي او د بچيو درمل يې وشي، ځينو د يادګار په توګه ورسره عکسونه اخيستلي ول، چې په ټوله دنيا کې دا [په اصطلاح] معجزه!!! نشر کړي. اوس نو فکر وکړئ چې د ښار ډېرى خلک راټول شوي وي او له ديواله درمل، يا کوم بل حاجت وغواړي، يا کله چې په ضريح يا د قبر په پنجرې پورې قفل وتړي يا کومې ونې پورې دستمال يا کومه ټوټه ګنډه کړي، دا توهمات او خرافات په حقيقت کې هماغه «نفاثات فِي العُقَد» او په ګنډو او غوټو کې پُو کول دي. ددې پر ځاى چې خداى تعالى، پالونکي ښتن «ربّ الْفَلَق» ته پناه يوسي؛ سپوږمۍ، ديوال او قفل، قبر او پنجرې او ډبرو او زرګونو داسې ځيزونو ته پناه وړي. دا يوازې په افغانستان او ايران او پاکستان او شا او خوا سيمو کې نه دي، د دنيا په ټولو ځايونو کې په مختلفو ډولونو، تاسو کولى شئ دا ووينئ. د معضلو د حل او پرانېستلو او د مشکلاتو د رفع کولو، د فلق او بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدو لپاره، یو خدای [پالونکي ښتن] ته مخه نه کوي او واهي او چتې خیزونو ته مخ کوي او پر هغوی زړه تړي؛ ربّ الفلق خدای یې هېرېږي او د هاغو کسانو قبرونو ته چې له دنیا تللي دي، مخ کوي. په واقعیت کې دا هم یو شرّ دی چې باید انسان له هغه څخه خدای تعالی ته پناه یوسي. له دې شرک ککړې فضا او شرکي فرهنګه چې په هغې کې غیر له خدایه نور عوامل او لاملونه اغېزمن پېژندل کېږي، باید واحد لاشریک ذات پالونکي ښتن ته پناه یوسي. نو نفاسات په عقد کې چې په کلکو او محکمو غوټو کې د هغوی د سستولو او پرانېستلو لپاره له جادوګرانه پُو کولو څخه یو تمثیل دی، په هاغه مهال کې مطرح کېږي چې د ستونزو او مشکلاتو په غوټه کېدو کې او د مسئلو او چارو د بندېدو پر مهال د خلکو جهل او ناپوهي، د هغوی سحر، جادو، کهانت او کوډو ته ګومارل شوي وي.

دا نازکه او لطیفه تشبیه چې د استعارې په قالب کې بیان شوې ده، د حضرت رسول اکرم(ص) او مسلمینو پر خلاف یو ډول ماهرانه او ظریف تبلیغات څرګندوي چې د اسلام دښمنانو لکه ابولهبانو د خپلو پتنه پارو او پتنه زېړو ښځو په مرسته او همکارۍ چې د فتنې د اور لپاره د خس او خاشاک راوړونکې ولې [او تل دي او وي به]، او ددې تبلیغاتو په توسه یې د عقیدې او د هاغه ایمان د غوټو په پرانستلو کې کوښښ کاوه چې د اسلام له پراختیا سره محکمې، ټیکاو او بوډل کېدلې [نفاثات فی العقد]. دا راز هڅې، تګې او مارغیت وسمهال هم په ډېره پېچلې او هنري بڼه د زر او زور او تزویر [استثمار، استعمار او استحمار] د اربابانو په توسه چې د خپلو دنیایي ګټو د لاسته راوړلو لپاره د شرکي نظام پاسوالان دي، د هر ډول توحیدي حرکت په مقابل کې کارول کېږي. قرآنکریم پیمانونه او تړونونه عقود [غوټې] معرفي کوي: [اوفوا بالعقود]، واده هم عقد او د نکاح غوټه ګڼي: [عقدةالنکاح] او جدّی سوګند خوړل د عقد له کلیمې سره ستایي: [...وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ...] ـ [مائده۸۹(۵:۸۹)].

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دې ترتيب بنايي وويلی شي دا شرّ چې په فلق سورة کې ترې يادونه شوې، هاغو تبليغاتو، توطئو، پارونو، لمسوونو، تحريکاتو، تجاوزنو او تېريو ته اشاره ولري چې د اهل کتاب [يهود او نصارا، يا په اوسني تعبير صهيونيزم او امپرياليزم] له اړخه ايماني ټولنې ته ځير او متوجه کېږي او مسلمانان بايد د داسې شر پر وړاندې د ربوبي مقام پناهځای ته، «رب الفلق» ته، چې د ودې او رشد او ژغورنې د ټولو خنډونو او پردو لېرې کوونکی دی، پناه وړونکی شي چې له تيارو څخه رڼا او نور ته ورسېږي.

او په پای کې څلورم او وروستنی شرّ چې پيغمبر<sup>(ص)</sup> او مسلمانان بايد له هغه څخه د «رب الفلق» لمن ته پناه يوسي، د حسود شرّ دی، چې کله يې حسادت وپارېږي، فتنې ولاړوي. [وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ.] او د حاسدانو له شره هغه مهال چې حسد کوي. «حَاسِدٍ»: حسود. بدورد. بدپالی. «حسد» ډېر بد او زشت شيطاني خوی دی چې د مختلفو لاملونو، لکه د ايمان له ضُعف، تنگ نظرۍ او بخل له اغېزه د انسان په وجود کې پيدا کېږي. او حسود هغه څوک دی چې د نورو د نعمت زوال غواړي، حسد د ډېرو کبيره گناه گانو سرچينه ده. او د دا ډول حسودانو بېلگه ابولهب دی، چې له پيغمبر<sup>(ص)</sup> سره د وينې له شريکوالي او خپلوۍ سره سره، د خپل وراره پر خلاف چې د زامنو خُسر يې هم گڼل کېده دسيسې، لمسونې او پارونې کولې. د ابوجهلانو او ابوسفيانانو انگېزه قومي رقابت او دښمني وه، خو ابی لهب چې له بنی هاشم څخه گڼل کېده، د حسادت په اور کې سوزېده، چې ولې يې د ځوان وراره پوړ او مقام پر هغه زياتوالی موندلی دی. حسادت لکه د سوړ، يخ وهلي او ويده مار په څېر چې حس او حرکت يې د دښمنۍ د اور له تودوخې سره پيل کېږي او له همدې لامله د حسود له شره پناه وړل هم د «اذا حسد» له قيد سره مقيد شوی دی.

قرآنکريم د هاغو خلکو په نسبت چې پيغمبر پکې استول شوی وو د بنی اسرائيلو له حسادته شاهد راوړي: «أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَضْلِهِ...» [نساء۵۴(۴:۵۴)] «آيا پر خلکو [= پيغمبر او مسلمانانو]، د هاغه څه له لامله چې الله تعالى هغوى ته له خپل فضله [نبوّت او کتاب] وربښلي دي، حسادت کوي!؟...». او له ايمانه کفر ته د مسلمانانو په بيرته گرځولو کې د هغوى سخته ليوالتيا، چې د هغوى له دروني حسادته يې ريښه نيولې [او نيسي] په گوته کوي: «وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ...» [بقره۱۰۹(۲:۱۰۹)]. «ډېرى له اهل کتاب د هاغه حسادت له لامله چې د زړه له تله [= په ذات او ضمير کې ؛ ستاسو په نسبت] يې لري، هيله [او ارزو] کوي، چې کاشکې تاسو له ايمان راوړو وروسته، بېرته د کفر حال ته وگرځوي!....».

نو ځکه ددې سورة په پاى کې وايي: «وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ.» پناه وړم د حاسد له شره، هغه مهال چې حسادت کوي. ځکه تر هاغه مهاله چې موږ له حسود وگړي سره د گټو ټکر نه وي پيدا کړى د هغه حسادت کوم ضرر نلري. په عالم کې ډېر موجودات شته چې انسان کولى شي د هغوى تر څنگه سوکاله ژوند وکړي، خو که خاص شرايط رادمخه شي همغوى کېدى شي د سرې لپاره شرّ اوسي. مثلاً ډېر حيوانات دي چې خپل ژوند لري، خو شوني ده چې په ځينو شرايطو کې شرّ رامنځته کړي. د بېلگې په توگه که سپى هار [لېونى] شي، د هغه دا لېونتوب د نورو ژوو لپاره حتا د خپل ځان لپاره به يې شرّ شي. په هر حال حسود وگړي شتون لري. داسې څوک به نه وي چې حسادت ونلري؟ لږوډېر د ټولو انسانانو په وجود کې حسادت شته. خو کله چې دا حسادت تحريک شي، وپارېږي، هغه مهال واى د هاغو کسانو پر روزگار چې په مسير او لارليک کې يې واقع شي.

ظاهراً داسې برېښي چې حسادت يو ساده څيز دى، خو تاسو د تاريخ په اوږدو کې وويني چې همدا ساده څيز يو له تخريبي موتورونو او لاملونو څخه دى چې ډېر زيات منفي تحرک او ځواک رامنځته کوي. لومړنى جنايت چې د بشر په تاريخ کې پيښ شوى دى او د آدم يو زوى د هغه د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی پر لاس ووژل شو، د حسادت له مخې وو. قابيل لـه خپـل ورور، هابيـل، سره حسد وکړ او و يې ويل ولې ستا قرباني ومنل شوه او زما، نه شـوه. لـومړی قتل چې پېښېږي، لومړنۍ ورور وژنه چـې واقـع کيـږي، لامـل او سـبب يـې حسادت دی. دا د انسان قويترينـه او تـر ټولـو ځواکمنـه منفـي انگېـزه ده. د يوسف ورونو هغه ولې په څاه کې واچوه؟ فقط د حسـادت لپـاره. ويـل يـې؛ ولې زموږ پلار هغه تر موږ زيات خوښوي او ولې تر دې کچې هغه تـه پاملرنـه لري؟ موږ خو تر هغه ځواکمنتر يو؛ موږ خو په کارونو کې لـه خپـل پـلار سره ډېره زياته مرسته کوو. نو حسادت يو ډېر خطرناک عامل دی، که وپـارېږي او ځواک واخلي، کوم کارونه دي چې ترې سر نه وهي او کومې پېښـې نـه دي چې د هغه له آغېزې به واقع نه شي.

داسې ډېرې کيسې به مو اورېدلې وي کله چې يو ځوان پر يوې نجلۍ عاشق شي او نجلۍ د هغه وړانديز رد کړي هلک له حسـادته د هغـه پـر مـخ تيـزاب پاشلي له دې حسادته چې که زما نشوي د بل چا هم نشي، د هلک له حسادته د نجلۍ ژوند تباه شي [که ژوندۍ پاتې هم شي]. حسادت ډېر يـو ځـواکمن عامل دی. ومو ويل چې په قرآنکريم کې، په ځلونو د مسلمانانو او پيغمبـر پـه نسبت د اهل کتاب له حسادته خبره شوې ده: «...حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم...» [بقره۱۰۹(۲:۱۰۹)] د هاغه حسد له مخې چې په زړونـو کـې يـې دی. هاغـه حسادت چې نه يې غوښتل دا ومني چې خدای تعالی چې تـل پيغمـبران لـه بنی اسرائيلو غوره کول، اوس يې دا پيغمبر د عربو له قومه غوره کـړی وي او ددوی له منځه يې څوک پيغمبرۍ ته مبعوث کړی وي ـ هغه هـم آخرالزمـان پيغمبر. «أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ...» [نساء۵۴(۴:۵۴)] آيا ددې لپاره چې الله له خپله فضله دې قوم ته دا انعام ښنلی، حسـد کـوي. وينو چې پيغمبر او مسلمانان هم د حسادت له خطـر سره مخـامخ ول – لکـه د ابوسفيانانو او ابو جهلانو خطر، د هغه د خپل سـکه تـره ابـی لهـب او د هغـې زمانې د برلاسو مشرکينو حسد....

(c) ketabton.com: The Digital Library

«حسودان» تل د انبيا او اوليا د لارې خنډ ول، نو ځکه قرآنکريم حضرت رسول (ص) ته فرمان ورکوي: د حاسدانو له شرّ څخه خدای تعالی(ج) پالونکي څښتن [«رب الفلق»] ته پناه يوسې. سره له دې چې په دې سورة او ورپسې سورة کې مخاطب پخپله پيغمبر (ص) دی، خو دا جوته ده چې موخه يې مثال او نمونه ده او ټول بايد د حاسدانو له شره خدای ته پناه يوسي.

لويه خدايه! موږ هم د حاسدانو له شره ستا مقدس ذات ته پناه وړو!

الهي! له تا غواړو موږ پخپله هم د نورو په نسبت له حسداو کينې وساته!

پاکه ربه، پالونکی څښتنه ! موږ د نفاثات فی العقد له شره او هم مو د حق په لار کې له وسوسه گرو وژغوره! آمين يا رَبَّ الْعالَمِيْنَ

په هر حال، د فلق په سورة کې، خبره پالونکي څښتن ته له پناه وړلو څخه ده چې د انسان او په ټوليزه توگه د ټولو استعدادونو او د موجودو خزانو پنځوونکی دی چې ځينې يې په اصطلاح له دې دانې بايد سر راوباسي. مولوي يو ډېر په زړه پورې تعبير لري چې دا معنا ښه روښانه کوي. په رښتيا چې زموږ عارفان پر مسئلو څومره ښه پوه شوي او بيان کړي يې دي:

شاخ و برگ از حبس خاک آزاد شد سر برآوردو حريفِ باد شد

وايي دانه چې په ځمکه کې حبس وه، آزاده شوه او ښاخونه او پاڼې يې وايستې او اوس د باد پر وړاندې ولاړه ده. اوس باد او توپان هم نشي کولی هغه وپرځوي. دا دانه تر کومه بريده ځواکمنه شوې ده چې اوس پر يوې سترې ونې تبديله شوې ده.

برگ‌ها چون شاخ را بشکافتند تا به بالای درخت اشتافتند

پاڼې يوه يوه د ښاخونو له منځه راوځي او ښاخونه او پاڼې همداسې سر وهي، ټوکېږي او سر آسمان ته وباسي:

با زبان شَطْاَهُ شکر خدا مي‌سرايد هر بر و برگي جدا

که بپرورد اصل ما را ذو العطا تا درخت اِستَغلَظ آمد و اسْتَوَی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن پر آيتونو يې استناد کړی؛ «...شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ...» [فتح ۲۹(۴۸:۲۹)] وايي ونه لګيا ده شکر کوي چې مونږ لومړی د دانې په بڼه په خاورو کې مېشت ولو او ذوالعطا، د بښنې خاوند پالونکي څښتن مونږ ځواکمن، لوړ او ستر کړي يو چې دا ډول يوه پېژند پاڼه مو موندلې ده. ورپسې نتيجه اخلي چې هاغه انسانان چې په دنيا پورې تړل شوي دي او د خاورې اسيران دي، کله چې ځان يې له اسارته آزاد شي، خوښېږي.

جان‌های بسته اندر آب و گِل      چون رهند از آب و گل‌ها شاد دل
در هوای عشق حق رقصان شوند      همچو قرص بدر بی‌نقصان شوند

هغوی لکه د بدر په څېر، يعنې د څوارلسمې سپوږمۍ غوندې بشپړېږي. وايي مونږ هم لکه د هماغې دانې په څېر د خاورې په زړه کې د اوبو او ختو اسيران يو؛ خو که وکولی شو خپل ځان له دې اسارته آزاد کړو، رشد او وده مومو او غوړېدا ته به ورسېږو. وينئ چې خبره له همدغه «فلق» او «رب الفلق» ده. خبره له هاغه خدايه ده چې دانه پرانيزي او استعدادونو وده کوي، غوړېږي او برکتناک کېږي، که مونږ هم وکولی شو، هغه ته په مخ کولو، د مادې او ماديّاتو له نښتنو او بنديزونو څخه آزاد شو. مونږ به هم د حق د عشق په هوا کې نڅاګر شو. په همدې ډول دی چې الهي آزاده انسانان لکه د بدر د ټيکلي په څېر بې له عيب او نقصانه دي.

جسمشان رقصان و جان‌ها خود مپرس      وانکه گرد جان از آنها خود مپرس

دا نڅا او سماع چې عارفان يې کوي، چې سره ددې چې يو شمېر کسانو همدې جسمي نڅا ته مخه کړې ده - مثلاً په قونيه او نورو ځايونو کې - سره له دې چې په هر حال کې د مولانا د مريدانو په حلقه کې وارد شوي دي، خو دا نڅا او سماع د يو بل ځيز نښانه ده چې که خلک هغه له ياده وباسي يوازې په همدغه جسماني نڅا کې پاتې کېږي.

گندم از بالا به زير خاک شد      بعد از آن او خوشه و چالاک شد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی په خاورو کې ننوت چې وروسته وکولی شي وړی راوباسي.

دانه‌ی هر میوه آمد در زمین　　بعد از آن سرها برآورد از دفین

«دفين» يعنې دفن شوی، ښخ او پټ شوی. وايي دا استعدادونه په خاورو کې له ښخيدو وروسته غوړيږي.

اصل نعمت‌ها ز گردون تا به خاک　　آمد و شد غذای جان پاک

د جهان وګړي چې که فروتن او خاکساري شي او خپل ځان راټيټ کړي، د هاغې دانې په څېر چې په خاورې کې دننه شي، هاغه مهال راپورته کېږي او اوچتوالی مومي.

دانه‌ها چـون در زمین پنهان شـود　　سـرّ آن سـرسبـزی بستـان شـود

در رحم زادن جنین را رفتـن است　　در جهان او را ز نو بشکفتن است

وايي نطفه د مور په رحـم کـې هـم همـدا ډول ده. دلتـه هـم، نطفـه، لکـه د همدې دانې په څېر په رحم کې پټېږي، خو د تل لپاره هلته نه پاتې کېږي، خو «در جهان او را ز نو بشکفتن است».

دانه‌ی مردن مرا شیرین شده است　　بل هُم اَحیاءٌ پی من آمده است

قرآن فرمايي: بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ. [آل عمران ۱۶۹(۳:۱۶۹)] وايـي لـه کـومې چې له دې «دفين» [ښخېدو] او خارو ته لـه سپارلو وروسـته حيـات [ژونـد] دی، حتا مرګ هم زما لپاره خوږ شوی دی، چون پوهېږم چې مـرګ هـم پـه واقعيت کې پالنه او بياځلي زېږېدنه ده.

دا په لنډه توګه د فلق سورة ته يوه کتنه ده، سره ددې چې په دې سورة کـې د بحث لپاره ډېر ځای شته.

صدق الله العليّ العظيم.

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ــ نظم قرآن ــ د عبدالعلي بازرګان ليکنه

۲ ــ آشنايي با قرآن ــ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ــ في ظلال القرآن ــ د سيد قطب ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴ ــ تفهيم القرآن ــ د مولانا سيد ابوالاعلى مودودي ليکنه

۵ ــ تدبر قرآن ــ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه

٦ ــ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ــ عبدالعلي بازرگان

۷ ــ الميزان في تفسيرالقرآن ــ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۸ ــ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ــ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۹ ــ پرتوی از قرآن ــ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۱۰ ــ تفسير نمونه ــ د آيت الله مکارم شيرازي او د ورسره علماو د پلاوي ليکنه

۱۱ ــ تفسير نور ــ د مصطفى خرمدل ليکنه

۱۲ ــ تابشي از قرآن ــ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه

۱۳ ــ تفسير باران ــ د دوکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۴ ــ ترجمه تفسير طبري ــ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۵ ــ تفسير ابن کثير ــ [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

١٦ ــ معارف القرآن ــ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه

۱۷ ــ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ــ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ــ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

۱۸ ــ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی

۱۹ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قيام الدين کشاف

۲۰ ــ عزيزالتفاسير ــ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۲۱ ــ صفوةالتفاسير ــ د محمدعلي الصابوني ليکنه ــ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۲ ــ د قرآن پلوشې ــ د ګلب الدين حکمتيار ليکنه

۲۳ ــ تفسير ديوبندي ــ د مولوي عبدالحنان ليکنه

۲۴ ــ حکمة القرآن ــ د مولوي امين الله پېښاوری ليکنه

۲۵ ــ تفسير ايوبي حنفي ــ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي ليکنه

٢٦ ــ تفسير احسن الکلام ــ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه

۲۷ ــ قرآن کريم په پښتو ــ د اجرالدين اقبال ژباړه

۲۸ـ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان ويب پاڼه [bazargan.com]

۲۹ ــ تفسير روح القرآن ــ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۳۰ ــ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ــ مولوي جانباز سرفراز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱ ـ روح المعاني فى تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانى ـ العلامه ابى الفضل شهاب الدين محمودالالوسى البغدادي.

۳۲ ــ تفسير جواهرالقرآن ــ مولانا حسين علي.

۳۳ ــ تفسير روح البيان ــ شيخ اسماعيل حقى البروسوى.

۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي.

۳۵ ــ کشف الاسرار و عُدة الابرار ــ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري.

۳٦ ــ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوى محمد ظاهر اسدالله مکي.

۳۷ ــ تفسير الفخرالرّازى المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازى فخرالدين.

۳۸ ــ التّفسيرالمبين ــ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه.

۳۹ ــ تفسير قرطبى ــ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه.

۴۰ ــ المفصل في تفسيرالقرآن الکريم ـ المشهور بتفسيرالجلالين ـ للامام جلال الدّين المحليّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

۴۱ ـ «سير تحوّل قرآن» ــ مهندس مهدي بازرگان.

۴۲ ـ مثنوي معنوي ــ مولانا جلال الدين بلخي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**